# پیلَوځی

PRESENTED BY
PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

شاه زرخان اسیرؔ

ډالۍ

د هغه ټولو مسافرو په نوم

چې خپلې ګل ګل ځواني

په پردو وطنونو کښې خاورې ايرې کوي

او خپل وطن ته خوشحالي او خوکالي راوړي

استير

پښتو ډاټ نيټ

شاه زرخان استير

## ټول حقونه محفوظ دي


د کتاب نوم: ـــــ پېلَوځې

لیکونکے: ـــــ شاه زر خان اسیرؔ

کمپوزنګ: ـــــ محمد ریاض ساغرؔ بټ خېله

ټائټل: ـــــ ضیاء الرحمٰن ضیاؔء تېمرګره

د چاپ نېټه: ـــــ جنوري ۲۰۱۱ء

چاپه خانه: ـــــ بلال پرېس بټ خېله

شمېره: ـــــ پنځه سوه

بیعه: ـــــ ۱۷۰ روپۍ

خپرونکي: ـــــ کاروان پښتو ادبي ټولنه کوز دير


PUKHTO NET

ـــــ د مُصنف چاپ شوي کتابونه ـــــ

د اوښکو څاڅکي، پېلَوځې (دا کتاب)

د موندلو درکونه

محمد رحمٰن بُك ډپو تېمرګره

او

د کتابونو هر لوئے دُکان

شاه زرخان اسیرؔ

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# شاه زر خان اسیرؔ د خپلې شاعرۍ په هنداره کښې

ښاغلے شاه زر خان اسیرؔ چې ما په ورومبي ځل اولیدو نو ماته شاعِر نهٔ ښکارېدو، شاید چې زهٔ ئې په سُور سپین رنګ، ښکلې جُثه او غبرګه ځوانۍ تېروتم. ولې چې شاعران خو اکثر زېړ زبېخلي او غمژن کړمن ښکاري. خو کله چې د ښاغلي شېدا سره زما خواله راغے او ماته ئې خپل ناچاپه کتاب "پسلَوځَی" راکړو چې په دې ځو کرښې اولیکم نو یقین مې راغے چې ښاغلے اسیرؔ شاعِر دے. خو بیا مې هُم یقین تکنې وو. ما وئیل چې شاعِر دے خو چرته د خُمارو سترګو د نظر د نشې په کرلېچونو کښې به تیندکونه خوري یا د توروزلفو په جاخ جاخ ځنګلونو کښې به لار اوباسي. خو ما چې د ښاغلي اسیرؔ کتاب پاڼه پاڼه اولوستو نو زما یقین تکنې پاتې نهٔ شو او په دې نتیجه اورسېدم چې ښاغلے اسیر یو حساس شاعر دے، چې د یورپ په رنګینو کښې نهٔ ترې خپل ځان ورک شوے دے او نهٔ له خپله ځانه ورك شوے دے. د خپل کلي یادونه، د خپل وطن د سپرلو رنګونه، مازیګرونه، ګودرونه د فطرت د ښکلاګانو تصویرونه، د خپلې خاورې رېګونه، د پښتو پښتونولۍ روایات او قدرونه، د خپلو خپلوانو محبتونه، د بېلتانهٔ دردېدلي ساعتونه او د مُسافرۍ د زاړهٔ چاودي ژوند شوګیرونه او غمونه ئې د خپل شعر په امېل کښې لکه د ملغلرو پېیلي دي، چې ځلا او ښکلا ئې زړهٔ ذهن او نظر په ځان پسې راکاږي.

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

د وطن د سیلست کره کتنه ، د مظلوم مرسته او د ظالم غندنه، د مزدور او دهقان ستائینه او د پښتنی هوډ ساتنه د ښاغلی استیر شاعری ته دوام بخښی. د هغهٔ په شاعری کښې یو اړخ ته د عِشق و رومان رویې غزونې کوی او بل اړخ ته غمونه ، دردونه آهونه اسویلی او سلګی د هغهٔ شاعری ته ژوند ورکوی.

زما په خیال شاعری کښې چې د مقصدیت رنګ او حقیقت ښکلا نهٔ وی نو پیکهٔ پیکهٔ او تته تته ښکاری او داسې به یو شاعِر هُم نهٔ غواړی چې د هغهٔ شاعری دې رنګینه او روښانه نهٔ وی. ځکه نو ښاغلے استیر هُم په دې هڅه کښې بریالے په نظر راځی چې د هغهٔ شاعری دې رنګینه هُم او روښانه هُم وی. هغهٔ د روزمره استعمال په دومره ښکلی انداز کوی چې سړے ورته ګوته په خُله شی او دا شعرئ تلسُو اوګورئ

ـ تا چې اووې "مړه خو" زهٔ پوهه شوم
ما د رقیبـانو پروا اونهٔ کـړه

د فن پختګی او د خیال نزاکت ئې له دې شعرونو بریښی:

ـ دا ښکار د اوبو ښکار دے لټ بهتلی نهٔ پکار ـبـږی
کونډه کښې چې مهے نیسې چینجے به ورله ګوری

ـ مزغوته ئې رنګونه د نظر په پانه تېر شُو
نازکه لولکی د رانیوو نهٔ وه ما پرېښـوه

شاه زرخان استیر

ښاغلے اسیرؔ د خپل وطن د سیاست مدارو دورنګی، منافقت او خود غرضۍ داسې په ګوته کوی:

- راچې شی کوځې ته سر راټیټ کړی دستار اوغواړی
مشـــــر چې د قام نهٔ شی د څان اوخــبـړی

دغسې ئې زړهٔ د خپل وطن او خپل اولس په بد حالۍ دردېږی او دغه څرېکه درد چې کله فریاد شی نو داسې شعرونه ترې جوړ شی

- اوس کورونه کنډرونه، کلی وران دی
ډېرته کډې کهٔ ستنې شوې زړهٔ به درشم

ګوره هر څائے د سرتورو ښغلو شور دے
کهٔ په سرئې لوپټې شوې زړهٔ به درشم

د بــارودو ګرد راخــور دے په هر لوری
دغه دوړې کهٔ خورې شوې زړهٔ به درشم

زمونږ وطن چې د کوم اړی ګړی نه تېرېږی، وروړ د وروړ په مرۍ چاړهٔ ایښې ده څان مرګی چاودنې دی، بمبارۍ دی او د وینو رودونه دی، څوك غزا کوی او څوك شهادت خپلوی۔ خو څوك هُم په دې نهٔ رسی چې کوم ته غازی اووایُو، کوم ته شهید اووایُو۔ ښاغلی اسیرؔ ددې حالاتو انځور ګری څهٔ په دې ښکلی ډول کړې ده او وائی:

شاه زرخان اسیرؔ

- چې شهید څوك دے غازي څوك دے چې دا اوپېژنو
پېژندګلو د حق باطل راته په سر پرته ده
زمونږ په خاوره بهېدلې وچه شوې وینه
لکه د مالګې دوړ بېدلې په پرهر پرته ده

خو هغهٔ په دې هم پوهه دے چې د پښتنو وینه تونېږي ، دا ولې تونېږي ؟ پښتانهٔ د اسلام سپاهیان دي، نو ځکه د تولې نړۍ کفري قوتونه دَ نامعلومه دښمن په څېر دَ پښتنو نه دیني او ملّي غورځنګ او جذبه شوکول غواړي۔ له دې کبله یٔ پښتانهٔ په خپلو کښې هم ارم کړي دي. د پښتنو د وژلو هڅې په سنورو هم کوي او پخپله یٔ هم کوي۔ په دې حقله ښاغلے اسیرؔ ورته داسې ګوت څنډنه کوي:

- کهٔ تهٔ ما اوپېژندې ما به هم بیا اوپېژنې
د انتقام سوې جذبه مې په ځیګر پرته ده

په پورتني شعر کښې د پېژندو تکے ذومعنی استعمال شوے دے۔ خپل نامعلومه دښمن ته وائي چې مخامخ راشه په ما ځان اوپېژنه۔ نو بیا به دې زهٔ خوښ شمه۔ حقیقت دا دے چې د لرغوني تاریخ نه پرته په ماضي قریب او حال کښې پښتنو چې د عزیمت او شجاعت کوم داستانونه د تاریخ پاڼو کښې رقم کړي دي، نو دا شعر د هغې ترجماني کوي۔ خوشحال بابا وائي۔

ښاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

۔ اتفاق په پښتنو کښې پېدا نۀ شـۀ
ګني ما به د مُغل ګرېوان پاره کـۀ

دا خبره ټولې نړۍ منلې ده چې پښتانۀ کۀ يو موټے يو آواز وي نو څوك هم ورله ماتې نۀ شي ورکولے۔ خو پښتانۀ په خپل مېنځ کښې اکـثـر د انتشار او بې اتفاقۍ ښکار وي۔ ددې څرګندونه ښاغلی اسیرؔ څومره په ښکلی پېرايه او نوی انداز کښې کړې ده

۔ تۀ ماته سُوك څپېړه وې او زۀ تا ته ډانګ غرګے ووم
ډبـه زما او ستا د کښښلستو نۀ وه ما پرېښـــوه

دغسې د نن و اکد اران د امن جرګو او مرکو په نوم پښتانۀ په يو بل قتلوی لګيا دی۔ ښاغلی اسیرؔ صيب دے اړخ ته هم پام لرنه کوی او وائی

۔ اغيارو پکښې ګټې تکولې تول لګيا وو
خبـره د جرګـو د مرکو نۀ وه ما پرېښـوه

لکه څنګه چې په ابتداء کښې ما تاسو ته وئيلی دی چې د ښاغلی اسیرؔ صيب نه د يورپ په رنګينو کښې نه ځان ورك شوے او نۀ له خپل ځانه ورك شوے دے ۔ کۀ يورپ ته تلۀ د هغۀ معاشی مجبوری هُم وی خو د هغۀ پښتون فطرت ئې پوخ رنګ نۀ قبلوی، څکه وائی:

شاه زرخان اسيرؔ

ـ ویره مه کوه کهٔ دلته د فرنګ جامه کښې اوسم
زهٔ لا هغسې پښتون یم هُم اسیرؔ هُم شاه زرخان یم

د ښاغلی اسیرؔ صېب شعرونه ډېر زړهٔ پورې او خوندور دی۔ هېڅ قِسمه څهٔ زکاوت پکښې په نظر نهٔ راځی۔ څکه چې اسیرؔ صېب ددې نه مخکښې هم کتاب کړے دے، چې نوم ئې "د اوښکو ځاځکی" دے۔ د ښاغلی اسیرؔ صېب دونېمه تولګه " پېلوڅی " ده۔ او زهٔ ئې بغېر د څهٔ مُبالغې نه ستائینه کوم۔ ولې چې یو شاعر د ادبی غونډو او تنقیدی محفلونو نه ډېر لرې خپل جذباتو او احساساتو نه دومره ښکلی شعری تصویرونه جوړ کړی ۔ هغه د ستائینې وړ دی او بیا دا لاندینی دوه شعرونه خو ئې په ځینې کتابونو هم درانهٔ دی، کهٔ چائې تول اوکړو

ـ مونږ چې خپلې سترګې کله پټې کړو بیا ښهٔ وینو
زمکه باندې تګ کوو خو بر آسمـــان ته هُم رسُو

ښـهٔ شوله اسـیـره د تګ لاره مو معلومـــه ده
مونـږه کلك نـیـولے د الله قُـــرآن ته هُم رسُو

زما دُعا ده چې الله تعالیٰ دې د ښاغلی اسیرؔ قلم د اسلام پښتو او ملك وملّت په ښهٔ راولی۔ آمین

په درناوی
حُسین احمد صادقؔ
۸ دسمبر ۲۰۱۰ء

شاه زرخان اسیرؔ

# خپلې خبرې

زما اولنۍ کتاب "د اوښکو څاڅکي" په کال ۱۹۹۷ء کښې چاپ شوے دے ، خو د کتاب د چاپ کېدو نه روستو څۀ داسې حالات شول چې زۀ مُسافر شوم او هغه هُم د خپل وطن نه ډېر لرې.

د کتاب خورونه په صحیح توګه اونۀ کړے شوه. د هغې نه وروستو تقریباً تر لسو کالو پورې ما شعر و شاعري اونۀ کړے شوه او کۀ څۀ لږ ډېر لیکل مې کړی هُم وو ، خو یو خوا بل خوا ضائع شُو. خو په کال ۲۰۰۸ء کښې چې زۀ د مُسافرۍ نه کور ته راغلم نو زما ملاقات اتفاقاً په یو ځائے کښې د یو ځلمی سره اوشو. داسې معلومېده چې زۀ دۀ ګنې نـۀ پېژندم ، خو چې کله ئې زما د بچی ولدیت لیـکلو او زما نوم ئې واورېدو نو په حېر انتیا ئې راته اوکتل او بیا ئې راته ډېر په ادب اووئیل چې دې ځائے ته کښېنه او بیا ئې خپله پېژند ګلو اوکړه او وئې وئیل چې ما ستاسُو کتاب لوستے دے او ډېره مې آرزو وه چې زۀ ستاسُو سره ملاقات اوکړم او بیا ئې راله بلنه راکړه چې بله ورځ زمونږ په تېمرګره کښې د پښتو ادبی کاروان یوه غونډه کېږی. کۀ تاسُو هلته راغلئ نو ټول ملګری به خوشحاله شي.

دے ځلمی نوم ښاغلے امان اللّٰه خان شېدا دے، چې اوس شکر دے په خپله د یو کتاب چې نوم ئې "زغم" دے او چاپ شوے هم دے څښتن دے. زۀ د هغۀ په بلنه په دیر پښتو ادبی کاروان کښې شامل

شاه زرخان اسیر

شوم، خو چې هر کله زهٔ د کاروان غونډې له لاړمه ، د ملګرو سره زما پېژندګلو اوشوله نو زهٔ ډېر خوشحاله شوم ، ولې چې لس (۱۰) کاله پس چې زهٔ د ادب چمن ته لاړم نو دا چمن اوس هغه جل وهلے چمن نهٔ وو. دا اوس سمسور چمن وو او پکښې د بُلبُلانو شمېره هُم ډېره وه. چې ټولو د يو بل سره خپلې نغمې شريکولې او د يو بل نغمو ته يې نوې نوې سازونه هُم جوړول او په تېره تېره د دير پُښتو ادبي کاروان د ملګرو له برکته مې د شعرونو ليکل شروع کړل، کوم ته چې زهٔ د کاروان د مشرانو او کشرانو شاعرانو د خلوص او مينې نوم وربخښم، چې هغوئ په فرق سره زما ډاډګېرنه اوکړه او زهٔ يې بيا دې مقام ته راوستم چې د دوېم کتاب چاپ کولو جوګه شوم.

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زهٔ د کاروان د ټولو ملګرو ډېره مننه کووم او د دير پُښتو ادبي ټولنې د ټولو ملګرو هُم ډېره مننه کووم چې هغوئ په هر وخت کښې زما ډاډګېرنه کړې ده او ورسره زمونږ د خيبر پُښتونخوا يو نوموړې شاعـر چې د هيڅ څـهٔ تعارُف محتاج نهٔ دے ، ښاغلے حُسېن احمد صادق صېب ډېره مننه کووم چې هغوئ په دې لنډ تنګ وخت کښې زما په کتاب د ليکلو دپاره وخت اوويستو.

ډېر په درناوی

**شاه زر خان اسيرؔ**

کلے انور آباد تحصيل بلامبټ ضلع دير (کوز)

نېټه: ۱-۱-۲۰۱۱

شاه زرخان اسيرؔ

کوم یو کار چې ستا نامه باندې شروع کړم
پس له هغې ئې امبد د سمبدو کړم

د رحیم او د رحمٰن گردان چې اوکړم
ورک منزل ته اراده هله د تلو کړم

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

# حمد

دغه تور تور اوچت غرونه شاهدان ستا د توحید دی
په صحرا کښې خړ رېګونه شاهدان ستا د توحید دی

ورته هېڅ اودرېدے نۀ شی کړی په غرونو کښې لار جوړه
دا د شنو اوبو سیندونه شاهدان ستا د توحید دی

څۀ خوشبویه څۀ بې بویه په صفت خپل پېژندے شی
دغه رنګ په رنګ ګُلونه شاهدان ستا د توحید دی

کله نمر د ګرمۍ سُور شی کله یخ بادونه راشی
بدلېدونکی موسمونه شاهدان ستا د توحید دی

اندامونو باندې یو دی خو جُثې بدلې ښکاری
د بشر دغه رنګونه شاهدان ستا د توحید دی

*****

شاهٖ ذرخان استیر:

# نعت

تل چې احسانونه رايادېږي د نبیؐ خپل
مونږ ته درودونه رايادېږي د نبیؐ خپل

سپينې رڼاګانې يې تمام جهان ته اوښودې
څنګ به دِ وينا نه په شا کېږي د نبیؐ خپل

غواړې کهٔ رضا او پاك الله درنه خوشحاله شي
هله کهٔ سُنت راژوندی کېږي د نبیؐ خپل

څوك چې قول و فعل يې د هرڅهٔ نه عزيز ګڼي
هغه به د اُمّت صف کښې اودرېږي د نبیؐ خپل

څوك چې د الله د رحمتونو اميدوار وي
دې به د هرڅـهٔ نه قُربانېږي د نبیؐ خپل

*****

شاه زرخان استیر

○

کۀ زۀ ستا نه ویرېدم ، د خپل ځانه شرمېدم
دغه دوه احساسه یو شُو د ګُناه نه بچ کېدم

مُحبت او حُسن دواړه، څۀ یو نوے اور پېدا کړی
له اشنا چې لرې لاړم نو به هومره سوزېدم

په خپل رب زما باور وو له تیرو مې ویره نۀ وه
د تندی په کرېښو تګ وو ځائے په ځائے چې اودرېدم

ستا یو غږ دومره ساده کړم په مابنام ترږمی نۀ ووم
چې زیړے مازیګر ډوب شو بر کنډاؤ ته اوختم

پسرلے خو لاړو تېر شو ما ئۍ هسې لار څارله
ما وے دا ځلې وطن به په سپرلی کښې اووینم

دا یو پړق ځوانی دې څۀ وه څۀ په منډه شوله تېره
ما اسیرؔ ګامونه تېز کړۀ ورته اونۀ رسېدم

*****

شاه زرخان اسیرؔ

خوشبو دې د بدن تازه ساتمه خو ته راشه
په لپو کښې لونګ درته کرمه خو ته راشه

په خوند به دې د ګوتو نه تڅونه زۀ اوباسم
ورغوے دې ورغوی کښې خپل ږدمه خو ته راشه

مونږ دواړه به يو ځل بل ته جنتي ماحول پيدا کړو
ټالو ته د خوبونو دې پرېږدمه خو ته راشه

که ما درنه د دغې اجازت نه غوښتو خبر دے
خوله به دې په ګُلو تولوومه خو ته راشه

د وصل لېونتوب کښې به مونږ خوئ د ماشومتوب کړو
چغچې به د غوزانو په تا خورمه خو ته راشه

شاه زرخان اسير

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د خپلو شوګیرو به درته تېوله شپه قیصه کړم
ستا زلفې به په ګوتو غزوومه خو ته راشه

د خپلې بې صبرۍ تنده به ستا په خوله مړۀ کړم
احساس دې د اُلفت په تار ترمه خو ته راشه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

اسیرؔ به درته څان نن د زم زم په اوبو وینځم
ستا تلے اعتبار به راولمه خو ته راشه

*****

شاه‌زرخان اسیرؔ

خوښ يې کړو سندان او په پلکونو يې ګُزار غوښتو
دے لېونی زړۀ رانه د خپلې خوښې يار غوښتو

دا د لاروو د سترې ژوند سترے ماښام به وو
ځکه ترې تېښې د ځان نه مخکښې يکه ځار غوښتو

دا د غېرت ډکه او په کوکو کوکو سر مينه
خوښه په مرګی وه د تورزن د لاس يې وار غوښتو

بيا په تور ماښام د سترغلو په ډُرشل اودرېده
اوښکه د هجران وه داغ د زړۀ له يې قرار غوښتو

دا هُم د اوږده سفر يوه سترې مسافره وه
دشتو دشتو ژوند له يې پوتے شانې سبنګار غوښتو

ډېر يې طلبګار وو خو اسيرؔ يې طلب اونۀ کړو
ساده شان سوداګره وه د ژوند يې اعتِبار غوښتو

*****

شاه زرخان اسيرؔ

PUKHTO.NET

○

په زيار کۀ په لېمون کۀ په عادت اورسېدي
دا نن جوړ په معنىٰ د محبت اورسېدي

داخل به دې بوستان کړي په رنګـــونو او رېنا
خارج نه کۀ په توري د حکمت اورسېدي

ګمان د ورکېدو به ې تر عُمره نۀ وي
خالق ته کۀ په سبوري د خلقت اورسېدي

حېران شه په حسينو نظارو د قُدرتونو
اسمان ته کۀ په لار د معرفت اورسېدي

چې نغښتې په خواهش کښې خو ساه ګاني ئې راکړې
خوشحال به شم هغه کۀ امانت اورسېدي

اسيره ستا خو هڅه د وصال د څۀ مودې وه
ديدار ته د اشنا په کوم طاقت اورسېدي

*****

شاه ذرخان اسیر

PUKHTO.NET
پښتو ډلېټا ټيم

څومره ته چې په ما ګران ئې، دومره زهٔ هُم په تا ګران يم؟
ګرانه تهٔ زما جانان ئې ،که نهٔ زهٔ هُم ستا جانان يم؟

کهٔ د اووو سمندر پورې جانه هُم رانه هېر نهٔ شوې
ددې دوو زړونو تړون اؤ دغې مينې ته حېران يم

کاغذونو کښې کهٔ نوم مې اوړی راوړی زهٔ ئې څهٔ کړم
ما ته خپله نامه ياده زهٔ لا هغسې افغان يم

د نېستئ دغه حالات مې په هستئ ربه بدل کړې
چې وړسترګی ارمانونه شي ماړهٔ ، په دې ارمان يم

خلق هلته کښې دا وائی چې ما دلته ګټه اوکړه
دا څوانی او بې جانانه سراسر تاوان تاوان يم

ويره مه کوه کهٔ دلته د فِرنګ جامه کښې اوسم
زهٔ لا هغسې پُښتون يم هُم اسيرؔ هم شاه زر خان يم

*****

شاه زرخان اسيرؔ

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نيټ

خبر دے که پوره ورله حاجات نۀ کړي
مه کوه چې خپل بچی خبرات نۀ کړي

څۀ چې وو هغه د خان له کوره وو
مونږ باندې چې دغه پېټی زبات نۀ کړي

مه ویشه نفرت په خلقو مه ویشه
دا د راحتونو ځائے فسات نۀ کړي

ښه مو د اصیلې ختې جوړ دے قام
دغه اصیل قام راله بد ذات نۀ کړي

نۀ چا ډېره کړې نۀ دا ډېره شوه
مه ماتوه بل له پرې څټ مات نۀ کړي

اوښایه بچی ته خپل دین اوښایه
چرته د چنچڼو کور جومات نۀ کړي

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ډېر پرې د بګوان چېنلې مه ګوره
زړونو کښې مېشته ورله منات نهٔ کړې

هر ځائے کښې زخمونه ناسورونه شول
دغه د ناسُور مرض نور زيات نهٔ کړې

مونږ د محبت ګلونه اوکرل
چرته د اسيرؔ چمن ميرات نهٔ کړې

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

باور ئې مه کوه که شېخ وائی دروغ به وائی
دغه سرې شونډې او رېښمين وجود د چا بدې شي

PUKHTO.NET

سرو اننګو ته به ئې خُله کښې اوبه څنګ نه راځي
چې په تازه ګوچو سوچه ګبين د چا بدې شي

*****

# تصوّر

یو د عشق تالاب دې جوړ کړو
سراسر دې پکښې ډوب کړم
لکه نمر په مازیګر کښې
سمندر کښې دې غروب کړم
یو دې زړۀ داسې راکړې
چې سرو شونډو ته پسخېږی
یو وزر د لولکۍ دے
په نرۍ هوا رپېږی
بل دې سترګو کښې راکړې
ښکلے رنګ د مېخوارانو
بل په مېنه لېونے شوم
ددې زلفو خامارانو
یو دې حورې دی دُنیا کښې
راته وائې جنتی شه
کۀ دې حورو ته نزدې شوې
څه بیا لاړې دوزخی شوې
د دوزخ سوزېدۀ څۀ دی
زۀ ئې دلته کښې ستی کړم
چې دا حورې وی ستا دلته
ځان به څۀ رنګ جنتی کړم

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دلته دې حورو ته ګورم
خو دوزخ دې راياد ېږي
چې اسمان ته لمبې رسي
دا وجود به پرې سوزېږي
دې کښې زۀ به قصور وار يم
چې تا ښکلي راپېدا کړل
نۀ شمېر شته نۀ شمېرېږي
دومره ښکلي ربه تا کړل
چې يو ښکلي مخ ته ګورم
بل دې ښکلے له هغې کړو
زۀ ترې هېڅ تښتېدے نۀ شم
يو په بل دې راپسې کړو
کۀ دې ښکلي مخ ته ګورم
بيا دوزخ ته به مې بيائې
کۀ په خپله رضا نۀ ځم
ملائيک ته به مې ښائې

چې ئې شونډې د ګُل پاڼې
په ادا مخې له راشي
سترګې غټې نرګسې ئې
ما نشه کړي په خندا شي

شاه زرخان استير

چې مې زړۀ په وس کښې نۀ دے
څنګه نفس دې دے راکړے
عقل هُم ورته بې بس دے
د مستئ نه دې ډک کړے
څنګ به سترګې پټې نیسم
روغ ځان څۀ رنګې شمکور کړم
یا بهر به وتے نۀ شم
بندیوان به ځان په کور کړم
دا خو ګرانه ښکاری خُدایه
تۀ په دې ناراضه مه شې
په سرکشه نظرونو
نارضا ته لما نۀ شې
زۀ چې تا ته مخامخ شم
ښه به خپل ځان ملامت کړم
بیا به کوزې سترګې ګورم
هُم قبول به خپل تهمت کړم
په ژړا او په سلګو کښې
ربه تا ته به زاری کړم
ستا ثنا به پټه وایم
هم بیان به ستا لوئی کړم

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

نوره خوبنه ربه ستا ده
کۀ بخښنې مې کۀ پرېږدې مې
کۀ مې شنو باغو له بيائې
کۀ په سُور اور کښې سېزې مې

بيا په دې ځان دلاسه کړم
چې رحيم ئې هُم رحمٰن ئې
کۀ زۀ ځومره ګنهګار شم
تۀ بخښونکے مهربان ئې
زۀ اسير کۀ په سجده شم
توبه ګار شمه نن تا ته
سبا بيا مې توبه ماته
مخ تورن به شمه تا ته

*****

مخ باندې چې ستا څوانکه ماته شوه
تبه مې تبګۍ شوه پسې زیاته شوه

بس دے ارمانونو په ستنه درومه
ملا د اُمیدونو زما ماته شوه

ولې شرمېده خو پُښتنه وه نو
غلې د همزولو نه چې شاته شوه

پوۀ ووم چې د مور نیازبینه ډېره وه
ما ته د هغې نه هُم ناویاته شوه

لاړل پُښتانه په دولتۍ پسې
هغه غېرتي ابۍ میراته شوه

څۀ ونیل غوښتل ئې هېڅ ئې اونۀ وې
ډېره چې اسیرؔ ته خواته شوه

*****

شاه زرخان اسیرؔ

○

دغه د مينې ډك زړگے مو مُدام ډك ساتلے
ورله هېڅوك مناسب نشته اظهار چا ته اوكړو

همزولې تولې شوې راجمع او يو بل ته وائي
گُلان مو تلي په سفر دي سېنگار چا ته اوكړو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

چې هسپتال كښې ئې علاج د سر خُوږي نۀ كوي
هُم په مكتب كښې د تعليم خيال د بچې نۀ كوي

چې ښه پرې پوهه دي خو وراني سمولے نۀ شي
نو دا نا اهله دې زمونږه مشري نۀ كوي

شاه زرخان استېر

نن بیا به مې په زړهٔ راته داغونه لګوی
سینګار به جوړوی شنه به خالونه لګوی

مالیار چې ګُلو اوخندوو دومره زورور شو
په شین کبل په نلسته بندېزونه لګوی

زما په ترس کاتهٔ به ورته بنه نهٔ لګی څکه
چې مخ ته د زلفانو تور جالونه لګوی

PUKHTO.NET

رنه رنه څوانی او دغه څُله له خندا ډکه
په زړهٔ راته د شونډو حسرتونه لګوی

دا اور اور اننګی وربانډې رنګ د ګُلابونو
مچې مچې په ما باندې چکونه لګوی

شاه زرخان استیر

ما هېڅ د وِصل جام د مينې لاړ کښې مونده نۀ کړو
شوه تنده زوروره څۀ ګامونه لګوی

شلېدلی ګرېوانۀ کښې مې بکسوې پړدمه لګيا يم
دا خلق زورور دی تهمتونه لګوی

اسيرؔ دې د ديدن دپاره وخت ويستلے ډېر دے
ماښام څۀ ! پکښې ډېر ډېر ماښامونه لګوی

*****

PUKHTO.NET

خپل خر او د بل اس کۀ په يو تول کښي برابر کړو
خپل ځان به ګټمور نۀ کړو دا بـل به ګټمور کړو

احساس د ځان ځاني به رانه هله خُله اوباسي
ځيګر چې د رغي احساس راوکښو ژور کړو

سبق د ورورولي او محبت به ورته ښايُو
خپل نوے کهول به هله په اختيار کښي متور کړو

کوزګورے چې پښتون شي نو هغۀ دلته کښي څۀ کړي
د لاسه ئې رانيسۀ چې تولګي نه ئې بهر کړو

چې څوك مو پاسداري او رهبري کولے نۀ شي
دا حق د هغو نۀ کېږي چې تاج ورته په سر کړو

شاه زرخان استير

په تا چې پښتون وژنې ته پښتون وژنې لګیا ئې
ملګری دې بیا نهٔ یو هډو، اوس چې دې خبر کړو

اسیرؔ باندې ښه نهٔ لګې پراتهٔ چې وې تیرو کښې
راځئ چې دغه ورونه د تیرو نه رابهر کړو

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○

تا خو نیت تړلے وو د عرش په سفر بره تلے
ښنګه درته لاره د قُل هو سورت اسانه کړه

PUKHTO.NET

ښومره ګران تړون وو خو رشته د نکاح غوټه شوه
ښه شوه يو دوه ټکو د قاري قِرأت اسانه کړه

○

مونږه به ګټو مینه
مونږ به تینګوو مینه

مینه پټه نۀ ساتُو
مونږ په دار کوو مینه

مونږ د مینې غله نۀ یو
مونږ نۀ پټوو مینه

مونږه کبرژن نۀ یُو
مونږ به راولو مینه

مینې له مکتب له ځو
مونږه زده کوو مینه

مونږ د مینې قدر کړو
مونږه ښه ساتو مینه

ګورو د اسیرؔ مینه
ځکه نۀ پرېږدو مینه

*****



PUKHTO.NET

کله چې ته ٔ او ستا اواز زما تر وره راشي
لکه چې یو ښکلے په بل ښکلي د بره راشي

مازیګری ساه مې اوځي چې مازیګر تېرېږی
چې د تور زړهٔ خاونده توره شپه کافره راشي

هېڅ نهٔ بچ کېږم کهٔ هرڅو لاسُونه مخ ته نیسم
ستا د شونډو سترګو لمبه چې مې تر سره راشي

بیا به زمونږه سترګې جنګ اوکړی د زړهٔ په خوښه
کهٔ راځوره لړه په مونږ د پورې غره راشي

د کامرانی شهیدان هُم په خوشبویو ماړهٔ شه
چې ښائسته رنګ د پسرلو په تېمرګره راشي

چې ستا د مخ په اننګو کښې قوتی سپوری جوړ کړی
بیا د اسیرؔ احساس نغمه نغمه سندره راشي

*****

شاه زرخان اسیرؔ

○

نن خو دلبر وایمه تا ته زۀ څوک څۀ کومه
تۀ خو هُم اووایه لږ ماته " زۀ څوک څۀ کومه"

تۀ مخکښې درومې زۀ هم تا پسې قدم اخلمه
کۀ را روان وی هر څوک شا ته، زۀ څوک څۀ کومه

تلسُو ئ سبوری ته کښېنئ خو د کور مخه نیسی
دغه شنډۍ مو شه راماته، زۀ څوک څۀ کومه

دا بې وسی او کمزوری مې ستا له غمه راغله
لاس مې هُم ته لګوه ملا ته، زۀ څوک څۀ کومه

کۀ دې د شونډو شراب نۀ راکوې جام پورته کوم
بلې به اووهم ګناه ته ، زۀ څوک څۀ کومه

د وریځو مېنځ کښې خال وهه خو د اسیرؔ په نامه
کنه سودا به مې شی زیاته، زۀ څوک څۀ کومه

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

ډېر مې ارمانونه وې وراته په ورتو پاتې شي
ستا دغه راتلۀ چې وې راتلۀ په راتلو پاتې شي

هسې وایم ګورم درته زۀ تا ته کتے نۀ شم
دے لېونی زړۀ ته ارزو راشي ارزو پاتې شي

وایمه چې اووایم خو څنګه درته اووایم
ستا نامه کۀ اخلمه په سر د وښکو پاتې شي

ډېر وایم چې دا ځل به ئې سل په سله هېره کړم
اوباسم توبه خو دا توبه په توبو پاتې شي

وایم چې خولګۍ دې درنه واخلمه ډېر څه درکړم
ډېره مې پیرزو ده په تا هره پیرزو پاتې شي

څۀ له ګرېوان اوګنډم شلېدلے خو به ښه ښکاری
پیسکی د لمن چې د جفا په ازغو پاتې شي

اے د انتظار لمنې تا تر کومې تېنګه کړم
هاغه لېونۍ چې وې اوده په اودو پاتې شي

*****

شاه زرخان استیر

○

نیسمه لاسُونه اوس پلستر ولې
نشته دُعاګانو کښې اثر ولې

زهٔ خو دیدن غوارم خبرات نهٔ غوارم
بند ئې کړو په ما پسې دا ور ولې

ظلم دے وژنې دی مرګونه دی
نهٔ راخېژي مخ په قبله نمر ولې

اے چیناره تهٔ خو راته اووایه
نهٔ خوږېږی سترګې په ګودر ولې

خپل بچی ته خلق پرق سپېره شی؟
ولی مې رسا د زړهٔ په سر ولې



PUKHTO.NET

دوہ چې مخامخ شي خنداګاني کړي
نشته په يو بل د چا باور ولې

خُدائے خبر چې څۀ ئې راکښې اوموندۀ
نۀ اړوی ما نه خپل نظر ولې

زۀ اسيرؔ هُم وايم چې زاهد يمه
نشته څوك په مونږ کښې قلندر ولې

*****

PUKHTO.NET

دغه فریاد چې وو راخور په سمه او غر راتلو
له غمه ډک یو اسوېلے مې له ځیګر راتلو

هېڅ د خپل ځان پروا مې نۀ وه ستا په ننګ ولاړ ووم
ما به ساتلې کۀ هر څومره زورور راتلو

اوس کوم ځائے اوڅارمه غل ته کومه لار اونیسم
کالۀ لوټونکے به خپل کور ته په خپل ور راتلو

اوس دې بچې خپله وطنه یو په بله وژنی
کنه پردو ته وومه تېنګ کۀ سِکندرؔ راتلو

اوس خو بر هلته او لر دلته په لړزان دی دواړه
ګنې پخوا خو به یو غږ د لروبر راتلو

دغه چې ما پسې دا تُورې پړقوی دا څوک دی
دغه یو سوال به د اسیرؔ زړۀ کښې اکثر راتلو

*****

شاه زرخان اسیرؔ

## د نظر غشے

څومره په شيش ئې راکتل ګزار ئې اولګېدو
زۀ ئې په نخښبه ووهه ګوره وار ئې اولګېدو

راته ئې غشے د نظر په زړۀ رسا خخ کړے
يخ ئې په يخ ګرم په ګرم تار ئې اولګېدو

*****

PUKHTO.NET

# د اختر شپه

هالېنډ اشخندے ۱۹۹۸

ډېر مې د کلي مازيګر يادېږي
ښکاره شوه مياشت هغه خبر يادېږي
په ما چې دلته اختر را نهٔ ولې
ما ته د خپل کلي اختر يادېږي

زما د خپل کلي جمات يادېږي
چې به پکښې مونږ په مانځه اودرېدو
چې به يو بل ته بيا ورغاړوتو
بيا کور ته به هله خورېدو
چې به سپين ګيرې هُم ځوانان ښکارېده
په ما چې دلته اختر را نهٔ ولې
ما ته د خپل کلي اختر يادېږي

بیا به یو بل مُبارکو ته تللو
هُم په بلنو به دېرو ته تللو
چا به بچی له گوتو اونیول بیا
واړه ځومان به سخرگنو ته تللو
چې د بلې په سر به اودرېدلم
ما ته هغه د بلې سر یادېږی

په ما چې دلته اختر را نهٔ ولې
ما ته د خپل کلی اختر یادېږی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې خوښدې رونه به راجمع شولو
څه خوشحالی به بیا زمونږ کره وه
هُم تول خپلوان او هُم د کلی خلق
لویه ښادی به بیا زمونږ کره وه
داسې ژوندون په هغهٔ را مه ولې
چې په نامه باندې بشر یادېږی

په ما چې دلته اختر را نهٔ ولې
ما ته د خپل کلی اختر یادېږی

شاه زرخان استیر

اوس یو ډېوال او بل ډېوال ته ګورم
لاس مې تندې ته لګولے ناست یم
د خپل قسمت په چارو نهٔ پوهېږم
څنګه یوائې کړېدلے ناست یم
په تېر اختر کښې په خپل کور کښې ناست ووم
دې ځل اسیرؔ به مُسافر یادېږی
په ما چې دلته اختر را نهٔ ولې
ما ته د خپل کلی اختر یادېږی

*****

○

خبرې مه کوئ خبرې به راپسې شي
دُعاګانې کوئ خبر دے کهٔ خبـرې شي

زهٔ به هُم د ژوندانهٔ نه لاس په سر شم
کهٔ مې زړهٔ کښې د یادونو ډیوې مړې شي

نهٔ نور صبر رانه کېږي نهٔ ورتلے شم
څومره ګرانې د وختونو فېصلې شي

شوګیره مې د خوبونو پېوند ناخلي
ماتې ماتې د خوبونو سلسلې شي

زهٔ چې کله هُم د یار منګولې پرېږدم
د خلوص سترګې ئې مړې نهٔ وي خوسرې شي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

بیا راوتے دې هېڅ ځائے د تېښتې نشته
سرې مچې دی چې د ګګه راخورې شی

چې خُمار ئې له خُمارو سترګو څاڅی
د شېخانو به وتل د مېخانې شی

بیا هم سترګه به ئې اوښکه لونده نۀ کړی
کۀ اسیرؔ په ګرېوان څیرې پښې ابله پښې شی

*****

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

ډېره مې په زړۀ راوربدلې خو تۀ چرته وې!
ما به درپسې نعرې وهلې خو تۀ چرته وې!

ما ونيل کۀ چرته خطايی کښې دلته راشې تۀ
هسې مې غُنچکې جوړولې خو تۀ چرته وې!

کله کله خوب کښې څۀ شکمنه ښکالو اورمه
خوا ته خوا ته ډېره مې کتلې خو تۀ چرته وې!

ډېر دې کړمه ستړے خوستا پل مې هُم اونۀ موندو
ډېر مې لټولې لټولې خو تۀ چرته وې!

ما وے چې لږ صبر شه مرګیه خبر دے را به شي
ما په څنکدن کښې يادولې خو تۀ چرته وې!

هغسې د مخکښې شرمېدلې خو مُسکې شولې
ما چې په خوبونو کښې ليدلې خو تۀ چرته وې!

ښه ده چې اسيرؔ ته يوه دغه لاره لنډه شوه
خيال کښې به مې ډېره راوستلې خو تۀ چرته وې!

*****

شاه زرخان اسيرؔ

زۀ د هجران د غم نور زور نۀ لرم
په ما ئې نور مه اوړدوې خُدايه

په ځان کښې تاب د دغې اور نۀ لرم
نور مې تنها مه ژړوې خُدايه

PUKHTO.NET
پښتو دا نیټ

شاه زرخان استير

○

تا زما د مرګ غشے لیندے ته خېژولے وو
ما هم وصیت د شهادت مخکښې لیکلے وو

بیا هغه رقیب د شېطانی صفت راغلے دے
ما خو دا له تورو اوبو اخوا اړولے وو

هسې ګرځېدم د بر کنډاو او لر کنډاو مېنځ کښې
تا د دیدن لاره کښې له مخکښې بند وهلے وو

تا ته به ئې زما د زړهٔ حالونه څنګ وئیلو وی
ما رهبار له دې ځایه په شا سم تېولے وو

ښکاری چې په دغه کښې صفت د مار خوړلی دے
اووهل تېوونه ئې له سړی ویرېدلے وو

خلق هسې وائی چې اسیرؔ نه شرابی جوړ شو
دا خو د بېلتون د شوګیرو اثر وهلے وو

*****

شاه زرخان اسیر

○

کۀ څوک سر د خاورو ډک کړي شنه پرې کله زرغونېږي
هغه کار کول پکار دي چې فطرت سره جوړېږي

دا چې هغه ورځ پیدا شو او تر ننۀ ورځې راغت شو
اوس خپل غټ بابا ته وائي چې بابا کله پوهېږي

څۀ په لنډو کښې دې اووې چې زمونږه یاري ختمه
چې شنه درب وي هغه چرته په یوه ورځ کښې اوچېږي

دا به څومره غټ مقام وي دا به څومره بختور وي
د جنون او ژوندون لاره چې په کوم ځائے یو ځائے کېږي

اول بنې وړه ډانډس کړه پاغونډے هله کړه جوړې
کۀ تۀ جاخ وړه ته کښېنې جاخ وړه کله څرخېږي

شاه زرخان استیمٔ

رشتې مه وژنه نادانه دا دوه سرے مار دے نهٔ مری
شی کهٔ یو سر باندې ژوبل نو بل سر به ئې خورېږی

سراسر د خاورې جوړ دے بیا ئې پرې نوم د ادم ایښے
کهٔ د هر کندیله خاوره خو ده خاوره نهٔ بدلېږی

په دو دو اوښه اسیرّه خپله لاره نیسه زر ځه
دلته ښار د لېونو دے دلته روغ لېونی کېږی

*****

زما هُم سوی لوی ارمانونه راشی لاړ شی
اشنا چې په مکېز کوی نازونه راشی لاړ شی

د خړو خاورو دشته کښې شالونه څنګ خوارۀ کړم
وختونه نۀ سمبړی طوفانونه راشی لاړ شی

د چغو انګازې وې خو هيچا نۀ اورېدلې
خوبونه په خوبونو کښې خوبونه راشی لاړ شی

بيا ښه به توبه ګاره شي خو اوس راپورې خاندې
په تا کۀ چرې دغسې دورونه راشی لاړ شی

د خيال په ځانګوتې کښې راته سر په ورانۀ کېږدی
خالونه جوړووم خو تش خيالونه راشی لاړ شی

زما د تصوّر هغه تصوير به څنګه جوړ شی
رنګونه ورله ګورم خو رنګونه راشی لاړ شی

ترخـــو به د بلې په سر ولاړه لاره څاری
اسيرهٔ تۀ رانغلې مابنامونه راشی لاړ شی

*****

شاه زرخان اسیر

یا دې د عقل روغه سترګه په ژور پرته ده
یا دې په سر باندې منګول د زورور پرته ده

دغه د غم شپېلۍ لا هغسې غږېږي هلته
زما د زړهٔ دشته لا هغسې بنجر پرته ده

چې شهید څوك دے غازي څوك دے چې دا اوپېژنو
پېژندګلو د حق باطل راته په سر پرته ده

زمونږ په خاوره بهېدلې وچه شوې وینه
لکه د مالګې دوړېدلې په پرهر پرته ده

کهٔ تهٔ ما اوپېژندې ما به هُم بیا اوپېژنې
د انتقام سوې جذبه مې په ځیګر پرته ده

راورېدله څو ګُلان او غوټۍ مړاوې بنکارې
قطره قطره پرخه خفه چې د سحر پرته ده

د سترې ژوند تور ماښامونو اسیرؔ مه راښایئ
ورته اوږده لاره په مخکښې د سفر پرته ده

*****

شاه زرخان اسیرؔ

# د ډېر وخت مُسافر ته

تا ته به هاغه کلے نۀ تا ته به بل ښکاری
تا دې خُدائے راولی دا کلے اوس بدل ښکاری
اوس درمسندونه د غوایانو اَ غوبلې نشته
د اشرګندو د نالګرو هغه ډلې نشته
اوس په پټو کښې د کتوننو بوسارې نشته دے
چې په خاځو به بادېدې هغه خرې نشته دے
اوس په قولبه پسې هېڅ غږ د کاکا ګل نۀ راځی
هَو شه اواز اوس د ماښو او د چارګل نۀ راځی
اوس څوک خبرې د کوندو او د تیرونو نۀ کړی
ذِکر د شولو د پټو او د نالونو نۀ کړی
اوس څوک دا نۀ وائی جغ دا دے خو سپرخے نشته دے
نۀ څوک دا وائی چې سرباندے جوغندے نشته دے
اوس کسبګر دلته کښې څۀ کوی تول ښار ته لاړل
هر چا خپل کسب پرېښودلے دے تول بار ته لاړل

شاه زرخان اسیؔر

اوس د اوګرو او د لېتو زمانه تېره بوله
د شوروانګانو د غوړو زمانه تېره بوله
اوس د شړشمو سابه هېڅوك تر درېو ورځو نۀ خوري
اوس څوك تلي د مرچكو او د ملخوزو نۀ خوري
اوس د چرګې غاړې نلستې تر نيمې شپې نشته دے
هغه وخت تلے اوس قيصئ د محبوبې نشته دے
دلته پروا اوس څوك د خان او د ملك نۀ كوي
څۀ ځان ځانې ده يو د بل سره څوك تك نۀ كوي
اوس په ودونو سونتونو تماشې نۀ كوي
اوس د وادۀ كاله كره هلته څوك شپې نۀ كوي
اوس مازيګر كښې هغه نلستـه په ډبـه نشته دے
مشران نشته د هغو ښكلې شملـه نشته دے
اوس ښكاريان نشته هم د زركو هغه ښكار نشته دے
هغه باخې بازونه نشته دے مښكار نشته دے
اوس دې توتانو ستې ډډې ځانګې وچې كړلې

شاه زرخان استيز

څۀ د تبرونو او اري غاښونو غوځې کړلې
د چينارونو سېوري دلته يتيمان ښکاري
بې جينکو دي ګودرونه ځکه وران ښکاري
اوس د ګودر نه په منګو کښې اوبۀ وړل نشته دے
خلقو پرېښودي دي ګودر ته تلل راتلل نشته دے
اوس د شپونکي د شپېلۍ غږ هُم دلته بوغ ښکاري
د هغه بر شهيد بابا په زيارت توغ ښکاري
نۀ موردیګان د مړی شته نۀ ماښامی ئې کېږی
نۀ ئې جمعې نۀ پسې تلين نۀ ځلوېښتي ئې کېږی
نۀ جنازې پسې د مړی څوك اسخات راوړی
خو اوس جمات ته کله کله څوك خېرات راوړی
اوس د جمات هغه بروزې پوزکي نشته دے
هغه مسينې کوزې نشته بدولي نشته دے
خو يو د بڼ جمات کښې اوس هُم هغه شان کېږی
سحر وختی پکښې په ښه چغه اذان کېږی

*****

شاه زرخان اسير

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

"ښه" دې څۀ دی غړ د ناوې نه ویستل دی
یا پېریان د پېریانۍ نه پاڅول دی

څه چې دواړه یوه کوډله کړو ودانه
لېو ئې نشتـه ختـه ګتـه کېښودل دی

ژوند عجبه تماشه د مېږو کور دے
بره ښکته ، ښکته بره خېژول دی

اوس بخښنه ئې هُم هغه ذات ته پرېږده
په مُلا صاحب ئې قبر ته سپارل دی

امامت زمونږ د کلی د مزو دے
خُلاصه او قُدوری مُنیه وئیل دی

ستا رضا په ښکارېدو اسانه ښکاری
ښاپېرۍ له کوهِ قافه راوستل دی

کۀ اسیرؔ دې د دُرشل د سره ستُون کړو
نۀ ده ګرانه کو دنګل او نۀ دنګل دی

*****

د مشرانو په پټکو کښې راته خم ښکاری
د هر څادر او هر واسکټ د لاندې بم ښکاری

اے موذِنه د سحر اذان ته څۀ له وائې
مونږ ته رڼا ورځ توره شپه او یو تور تم ښکاری

د هر آفت او مصیبت نه خلق کور ته تښتی
زمونږ کۀ کور دے او کۀ کلے ډک له غم ښکاری

دا ودانۍ وې داسې نۀ وې دا کورونه ډک وو
دغه کنډر کنډر چې نن په پورې چم ښکاری

اخِر پُښتنِ ووم له وخکو مې خندا اوتښتېده
د بوډۍ مور او پېغلې خور سترګو کښې نم ښکاری

زمونږ په توله پُښتونخوا دې لمبې پورې کړلې
وزیرستان سوات باجوړ به درته کم ښکاری

*****

شاه ذرخان استیر

ړک خم راته راقــړ کړه نن د جام خبرې مه کوه
اے مونږه لېونو ته د انجام خبرې مـه کوه

مونږه ئې ښه پېژنو سپوږمۍ پرې ښه نیولې شي
مونږ چې ئې سارو د هغې بام خبرې مه کوه

مونږه په مزل کښې د منزل په هیله تګ کوو
مونږه لاروو ته د ماښام خبرې مه کوه

مینه قدرمنه مینه ننګ مینه غیرت ګڼی
پېژنم پُښتون ددغې قام خبرې مه کوه

ننګ چې ننګیالی کړي نو نۀ شپه ګوري نۀ ورځ ګوري
دوئ ته د راحت او د ارام خبرې مه کوه

لاړله هغه د حُسن ښغله ځوانی مرګه شوه
سوات لمبو اغستے د کالام خبرې مه کوه

نن اسیرؔ ایسار دے سبا بیا به چرته تلے وی
دۀ ته په یخ سبوری د قیام خبرې مه کوه

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

بل شوے هر طرف اور دے دیر ته څۀ له راځي
بوئ د بارودو پکښې خور دے دیر ته څۀ له راځي

هغسې توقې خندېدل او خوشحالي نشته اوس
هر خوا قیامت دے شور ماشور دے دیر ته څۀ له راځي

چې ئې پلو د لوپټې هم چا لیدلے نۀ وو
د هغو پښغلو سر سرتور دے دیر ته څۀ له راځي

چې ئې په وینو په خولو په قربانو جوړ کړے
د هر غریب وران شوے کور دے دیر ته څۀ له راځي

چې به ئې مونږ هر مازیګر د لاندې غونډه کړله
هغه چینار هُم پروت نسکور دے دیر ته څۀ له راځي

د ملاکنډ په پښتنو باندې څۀ جبر کېږی
د زورورو پکښې زور دے دیر ته څۀ له راځي

اسیرؔه تا خو د کافرو جام کښې خُله ابښودې
تا ته د هر چا زړۀ کښې تور دے دیر ته څۀ له راځي

*****

شاه زرخان اسیرؔ

## درې شعرونه

ډزې په څۀ اوشوې چا دغسې پوښتنه اوکړه
چا وې چې بيا ئې د پښتون په ځونه اور اولګو

وېلے چې بيا شوروشغرب راخېژی بيا څۀ چل دے
چا وې چې بيا ئې د پښتو په ګونه تور اولګو

چا وې چې دغه لګېدلے دا تور داغ د څۀ دے
چې يو پښتون نۀ کړلو سپين کۀ څوئې زور اولګو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## دوه شعرونه

څوک وائی کچکول مو درې ورې کړو نور خبر نۀ غواړو
بيا څوک راپاځی په کچکول باندې پټری اووهی

سپی په غپا شو ملنګ بيا کچکول راغستے ښکاری
داسې څوک نشته چې په ډانګ باندې دا سپی اووهی

شاه زرخان استیر

## دیر پښتو ادبي کاروان کښې
## د شرکت په وخت

تلمه د منزل په لور خو لارې تلې ډېرې وې
کله په یوه کله په بله لاره ستړے شوم

ډېر زهٔ ګرځېدمه تنهایو کښې څوک مې نهٔ موندل
خو نن یمه خوشحاله چې کاروان سره ملګرے شوم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

شاه زرخان اسیر

# شاعران څۀ وائی؟

د خپل رب نامه ستایو
ژبه ګُل له ورکوو
خو چا اونۀ پېژندو

تال دَ زلفو جوړوو
خپل ارمان پرې ځنګوو
ادا بام ته خېژوو
خو چا اونۀ پېژندو

لاره تولو ته ښایو
ړاندۀ مونږ بینا کوو
مړۀ قامونه پاڅوو
خو چا اونۀ پېژندو

شاه ذرخان استیر

PUKHTO.NET

پردی ځان ته خپلوو
مرور پخلا کوو
تښتسـبدلی راولو
خو چا اونهٔ پېژندو

توره شپه شوګیروو
خپلې اوښکې تویوو
خپلې سترګې ړندوو
خو چا اونهٔ پېژندو

سپوږمۍ مونږه خندوو
تورې وربښې پاکوو
ستورې ځان ته ژړوو
خو چا اونهٔ پېـږندو

مونږ به ښه شعر لیکو
رقیبـان به زوروو
د اسیرؔ د زړهٔ منو
خو چا اونهٔ پېژنـدو

*****

شاه ذرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

شونډې پرې مهٔ خوځوه، لوظ پوره به نهٔ شي
يارې ده ګرانه اشنا، وعده وعده به نهٔ شي

دغه سجده ابښودل جانان ته ګرانه نهٔ ده
خو بې د زړهٔ له صِدقه، سجده سجده به نهٔ شي

کهٔ مې پوښاکه د زړهٔ، په تش پوکي سړوې
هسې پوکي مه وهه، په دې سړه به نهٔ شي

اول پرې پړه واچوه، کهٔ ئې منې او کهٔ نهٔ
چې دې پړه کړے نهٔ وي، ګيله ګيله به نهٔ شي

شراب دې ښنيمه ساقي، اول پرې شونډې کېږده
چې ئې جوته نهٔ کړې تهٔ، نشه نشه به نهٔ شي

اسيرهٔ ځان ته ګوره، په آئينه کښې د زړهٔ
کهٔ داغ په داغ نهٔ بنائې، نو آئينه به نهٔ شي

*****

شاه زرخان اسيَر

PUKHTO.NET

○

څوک نور زغم د بېلتون نۀ لري بې تاب شي
څوک بېلتون کښې هم په مينه ښه سېراب شي

څوک د عشق په سرو سکروټو کښې ژوند تېر کړي
څوک د ښکلو سرې خولګۍ واخلي شاداب شي

چا ته عشق تر اسمانونو رڼا راوړي
چا ته دا لاره ازغنه شي ګرداب شي

چا ته عِشق د ګبينه خواږۀ پېدا کړي
چا ته يو څاڅکے دارو پکښې ناياب شي

څوک په يو غږ د دوزخ په اور سوزېږي
څوک يو دم کښې جنتي په يو جواب شي

څوک يو تار ترې د کفن دپاره غواړي
چا ته دا زلفې تارونه د رباب شي

شاه زرخان اسټير

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چا ته مخ د محبوبا شفق نیول وی
چا ته تور ماښام رنګین ډك د شباب شی

څوك ترې یو څاڅکے د ژوند دپاره غواړی
څوك ماړۀ ماړۀ د شونډو په شراب شی

ښه ئې ګورم په خندا وی را روانه
زۀ اسیر چې ورنزدې شم هغه خواب شی

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

هېڅ پوهه نهٔ شومه اشنا تا راته څهٔ اووئیل
شمـه لوګے لـه تا دا راته زړهٔ اووئیل

زړهٔ به مې اووے خو مې خُله ستا خلې له نهٔ شوه دروړې
دې لبونی هُم وړهٔ ته وړهٔ او پړهٔ ته پړهٔ اووئیل

هر مازیګر هغسې زهٔ ستا انتظار کښېنې ولاړ
خپلو لوظونو ته دې هسې پُښتانهٔ اووئیل

ما ساده توب او بوله توب په خپل ځان اومنلو
تا چه له قاره راته ورك شه ! ورك شه! څه! اووئیل

په چل کښې ول دې جوړ کړو ستا اسیر پرې پوهه نهٔ شو
یو ځل دې نـهٔ او بیا دې ښه او بیا دې نهٔ اووئیل

*****

شاه زرخان اسیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

اوښکې په مخ چې مې راتلې جانانه
ډېر ډېر به تهٔ رایادېدې جانانه

سترګې چې پټې مې کړې خوب نهٔ راتلو
تهٔ به مې مخې ته راتلې جانانه

څو ځل توبه شومه له جام او ساقی
خو دا توبې به ماتېدې جانانه

زهٔ د ګلونو دې خندا حېران کړم
تهٔ به هم داسې خندېدې جانانه

په ملاکنډ کښې د خندا نه شین شه
کله چې مخې له راغې جانانه

اسیرؔ له ستا د مخ رڼا پکار ده
دی د فراق تورې تیارې جانانه

*****

## دا ما په خپل خیال کښې د خپلې ورې لوُر له طرفه نظم لیکلے وو۔ هالېنډ ۹ مارچ ۱۹۹۸

زمونږ په کلی د ګلونو پسرلے راغلے
تا ابو جانه د شړشم ګُلونه څۀ اولیدل

د کور سره مو الوچو ګلونو اوسپړودل
هغه دوؤ بوټو د مالټو ګُلونه اوسپړودل
بره باړې کښې هُم رېدو ګلونه اوسپړودل
په هر قدم د زمکې مخ باندې شینکے راغلے
تا ابو جانه د شړشم ګُلونه څۀ اولیدل

بره باړې کښې هُم دادا مشنګ کرلی ابو
هُم د تېر کال پشان ښائسته ګُلونه ئې کړی ابو
هُم ځائے په ځائے پکښې یو څو پلی ډك شوی ابو
زیړ ګُلے ګُل شو په هر ځائے کښې زیړ سترګے راغلے
تا ابو جانه د شړشم ګُلونه څۀ اولیدل

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

مونږ ابو جانه خوږ ته لاړ شو ترمیرېږ شوکوو
هُم سرې کرکنې او اینلے د ادیے شوکوو
شنه اننګوړی بیا په پټه د غرمې شوکوو
نور هر څۀ ډېر دی خو یوائې ستا کمے راغلے
تا ابو جانه د شړشم ګلونه څۀ اولیدل

پاس په دې غرۀ کښې هُم ګورګورې تورې شوې ابو
زۀ ووم ورغلې کشرې خور له مې راوړې ابو
ورختے نۀ شومه په کانو مې ویشتلې ابو
هُم په ګودر کښې اوبۀ زور دی وچ خوړے راغلے
تا ابو جانه د شړشم ګلونه څۀ اولیدل

*****

○

هغه درد ته به ما درد ونیلے نۀ وے
کۀ ئۍ زۀ د ژوندانـــهٔ ویستلے نۀ وے

لږ پترے کۀ مې زخمي زړګی نیولے
نو فریاد به مې له خُلې وتلے نۀ وے

کۀ د شمعې په خپل ځان باندې لاس بر وے
په لمبه به ئۍ پتنګ سـبـزلے نۀ وے

کۀ د خپله ځانه نۀ وے ما ته ګرانه
دغه خون به درته ما بخښلے نۀ وے

زورور په ما د یار د مینې زور دے
ګنې تل به مې ګرېوان شلېدلے نۀ وے

کۀ دې لږ ورباندې زړهٔ سبزلے هُم وے
لېونے به دې اسیرؔ لیدلے نۀ وے

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

○

صِله د مئینتوبه راله څنګه راکوی
لیلیٰ ډکه له نازه شنه بنګړی راشرنګوی

اخِر به دې دا مستې سترګې ما نه بېګانه کړی
رېبار چې ستا خبر هُم د رقیب په لورې وړی

همېش د سترګو جنګ وے چې ما تا سره کولے
چې مونږه مخامخ شو نو غماز ولې راځی

خُمار نه ډکې سترګې چې ښکاره نهٔ کړې ساقی ته
ساقی دې داسې وخت کښې په يو جام غلطوی

د ورځې چرته ګرځمه ستا غم په څهٔ غلط کړم
بدبخته ماښامے دے چې تا بیا رایادوی

اسیؔر ته څنکندن کښې په سینه باندې لاس کېږده
چې نهٔ راځی فکرونو کښې جامونه او ساقی

*****

شاه زرخان اسیؔر

کومه ورځ چې دې زړګے لړ شان زهیر شی
زما هُم روان د اوښکو یو بهیر شی

خوب خو هغه وی چې ستا په خنګل اوشی
چې بې ستا له خنګل وی هغه شوګیر شی

ستا په شمبر کۀ زۀ خوبان د جهان ګورم
نو په ټولو کښې به ستا حُسن قجیر شی

صدقه شۀ له د سر ورکوې یاره
دُعاګو چې ستا دپاره دا فقیر شی

کۀ ئې سر وی ستا پکار ورنه ې غواړه
خُدائے دې نۀ کړی خود غرض چې ستا اسیر شی

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

نن يې په محفل کښې چې حساب د پيالو اونۀ شو
مونږه لېونو ته پکښې غږ د راتلو اونۀ شو

ما د مېخانې له دستور ځکه بغاوت اوکړو
دلته احترام د پښتنې قاعدو اونۀ شو

زړۀ مې دا غوښتل چې قدمونو کښې يې پرېوځم
ښه ده چې توهين د محبت او پښتو اونۀ شو

بيا هُم مازيګر ګُلې تول ستا په انتظار تېر شو
خبر دے کۀ نصيب پکښې زمونږ د ليدو اونۀ شو

ما ورته ګرېوان خپل تر لمنې پورې خيرې کړو
بيا هُم يو پوتسکے اعتِبار د سپرلو اونۀ شو

هسې مونږه تُورې نېغې کړې وې چې جنګ ګټو
زړونو محبت غوښتو د جنګ په ګولو اونۀ شو

شاه زرخان استيّر

غم د طبیب څۀ له کړي جانان ورله راوغواړه
علاج د لېونو د سپېلونو په لوګو اونۀ شو

نیت د قضائی مانځه يې ستا په لور تړلو خو!
وخت د کراهت راغے د غر په ختو اونۀ شو

ما اسیرؔ د خپلو ارمانونو جرګه ماته کړه
تا ته چې احساس د خپلو کړو وعدو اونۀ شو

تا چې د اسیرؔ نامه په دومره مینه واخسته
ما ته بیا احساس د هغه خپلو توبو اونۀ شو

*****

شاه زرخان اسیرؔ

○

ډېره په ما ګرانې په تا ګران شُو چې زۀ ګران شم
مړ چې بې ارمانه ستا د زړۀ هغه ارمان شم

نۀ کوکې نۀ نعرې وی د ازغو په بلسبدو کښې
بې احسلسه ساه خُتلې هغه ژوند د خپل جانان شم

د حوس په تيندکونو کۀ مې طمعې نۀ غزېږی
په مزل به يکه څار شم په منزل به يا قُربان شم

د شفق دغه سرې غاړې چې مې سرو سترګو له برېخ شی
د تور تم په دې جهان کښې بيا د خپل ځانه بې ځان شم

د اُميد واړه ټالونه پړوکی پړوکی او غوځ غوځ شو
ددې چم په خاموشۍ کښې به د کومې کوتې خان شم

*****

شاه زرخان استیر

# د نن واکدار

تهٔ خو دې خپل بچي له قصر او ماڼۍ جوړوې
ورله د لوبو چمنونه او باړې جوړوې
زما بچے له کوره اوبلسې ښېمه نهٔ لري
ښېښې ابلې ښېښې ګرځي په تن باندې جامه نهٔ لري
د خوار غريب بچے به څهٔ وي څهٔ قيمت نهٔ لري
ستا د ټېنکونو او توپونو څهٔ قوّت نهٔ لري
خپل بچي خپله خورې په سُوړه کښې يو مار پروت ئې
زمونږ د ملک په خزانو باندې خامار پروت ئې
چې ستا وس کېږي نو ډيوه رڼا هُم نهٔ راکوې
زمونږ په کور کښې پېدا کېږي دا هُم نهٔ راکوې
نو څهٔ اُمېد به مونږه ستا او ستا د کور اولرو
هله به ئې اولرو چې ستا پشانې زور اولرو
تهٔ په دې ملک کښې خپل بچے د ملک بادار جوړوې
ورله څهٔ چل او څهٔ هُنر د اقتدار جوړوې
زما بچے د ملکه ورک شي نو ډوډۍ اوګټي
چې د عربو لوئې شېخانو له دوبۍ اوګټي
چې چرته ګورو نو هُم غټه کُرسۍ تا نيولې
په منډه منډه مونږ کړه ستړې هوسۍ تا نيولې

شاه زرخان استیّر

ددې نه مړۀ ښه يُو خو ستاسُو غلامی نۀ کوو
په دوه لاسی به درته نوره سلامي نۀ کوو
دا خلق وائی نو زۀ دې ته ازادی اوواېم
کۀ د پُښتون دغه تقدير ته مورزادی اوواېم
زما په کلی چې ږلی ږلی ګولی وربـــږی
انګار انګار راوروی سپرغی سپرغی وربږی
زما د ملك آقا زۀ تا ته آقا څنګ اوواېم
د تورې شپې تورې تيارې ته رڼا څنګ اوواېم
وارۀ وارۀ بچی يې څۀ کړې ځوانی مرګه يې کړه
کۀ دې جارو نرۍ نرۍ وی پسې غبرګه يې کړه
اے مشرانو تاسُو ولې داسې غلی ناست يئ
د باز د کوره يئ په ځائے د تپوس ولې ناست يئ
تاسُو دا نۀ ګڼئ چا دا قوم به ځواب غواړی
دا څۀ چې کېږی برابر به يې حساب غواړی
نو ښه ده ښه ده تماشه کوئ په لوړه کښېنئ
چې ګرد مو اونۀ وهی چرته په ځانګړه کښېنئ

شاه زرخان اسیؔر

خپل کور لرمه خو اغیار ته تا سپارلے یمه
تا خو بچے د نامنلې مور ګڼلے یمه
د ګلو کور وو ملاکنډ خو تا یو سره لمبه کړو
چې د نفرت لمبه ئې مړه وه تا هغه لمبه کړو
پکښې اسیرؔ چې د هر ګل سره یاری کړې وه
هم ې سائل چې د نرګسو رېباری کړې وه
کنډر کنډر دې کړو د سوات هغه ښکلا دې اوسوه
د فطرت ډکه د ښائست هغه لېلیٰ دې اوسوه

*****

حوصله مې د زړګی نړېده ورو ورو
پسته ژبه د لېلئ خوځېده ورو ورو

دا سرخي ئې د حیا وه په خبره کښې
کۀ منه د پشکال پخېده ورو ورو

PUKHTO.NET

څۀ د شونډو بېلېدل ئې وو مُسکی شوه
کۀ غوټۍ وه د سحر خوړېده ورو ورو

خوشبوئی ئې د زلفانو راخوره شوه
لکه سوړ باد په پرهر لګېده ورو ورو

دې اسیرؔ ته دې خُدائے صبر ورنصیب کړي
د ځوانۍ نشه ئې سر ته ختـه ورو ورو

*****

○

چې اسمان ته توپ وهي انجام يې څۀ شي
سر د لاندې به راپرېوځي ورۀ ورۀ شي

د ځنګل بالختې اولګوي سر ته
د نېستۍ وهلې زوږ څادر کښې وده شي

د ظالم سره چې تُوره لاس کښې وينې
خاوندان ورته د سترګو هم ړانده شي

د شړۍ سره شال کله سمبړے شي
کۀ شړۍ کښې هم يو څو تارونه سرۀ شي

کرامات غواړې په عقل ممکن نۀ ده
له کمانه وتي غشي کۀ ستانۀ شي

توقع يې چې د رحـــم د چا نشته
لېونی په بيابانونو کښې مونده شي

شاه زرخان استېر

نامراده به هُم هلته پاتې کېږي
چې مُدام ئې د بل سترګو ته کاتۀ شي

هېڅ په تېښته نۀ خلاصېږي کۀ څوك وائي
کۀ په منډه د سورو نه څوك په تلۀ شي

عاشقان ورته د زړۀ په سترګو ګوري
کۀ بل کړي چراغان ورته تول مړۀ شي

هېڅ چې شمارې ما پسې نۀ کړې اے خُدايه
ددې عُمر چې بې ياره تېرېدۀ شي

تۀ اسيرؔ کۀ په سوالونو جانان غواړې
خُدائے خبر شه کۀ په سوال جانان موندۀ شي

*****

شاه زرخان اسيؔر

ربباره خبر زر تر زر دلبر ته رسوه
وایه مینه رُسوا کیږی اوس ئې سر ته رسوه

زما تول چم گاونډ هم رقیبان په تماشه دی
حیا مې د زړې کوډلې ور ته رسوه

ستا اوس هُم یقین نۀ شی نولږ سم ورته اوگوره
زیږگو کښې مې نظر د زړۀ پرهر ته رسوه

اے باده الوتونکیه لږه ما نه ادا واخله
پیرزو پیرزو ئې سترې مُسافر ته رسوه

ددغې پرقینده ماحول دا زړۀ مې زړه له نۀ ځی
قِسمته ما خپل کلی خپل گودر ته رسوه

اسیتره په نکریزو سرې منگولې کۀ دې یاد شی
شوقدر درنه تبر شو ځان اختر ته رسوه

*****

شاه زرخان استیر

چې ستا لارو کوڅو کښې رقیبان د حده ډېر شو
نو ځکه درته مونږه د خپل سر و ماله تېر شو

ګیلې وې خو د سترګو په کتو کتو کښې حل شوې
ماشوم غوندې د ممو په لالچ کښې هر څۀ هېر شو

رازونه د یارۍ مې خوندی ایښی وو په زړۀ کښې
نظر دې تښنولمه په ورو ورو رابرخېر شو

تا کله پوره کړې وو خو ما ته هسې وائې
لوظونه کۀ وعدې وې تول په ما پسې را شمېر شو

ښکا مې درته تولـه شپه کړکۍ وه وازه پرېښې
هغه شان غولول دې بیا جانانه په دې پېر شو

اسیرۃ بې جانانه د سفر ژوند څومره تریخ دے
دا قند هُم په سفر کښې راته سم لکه ګندېر شو

*****

شاه زرخان اسیرؔ

هر شے راله راکړے دے غټانو په خېرات کښې
زمونږ څۀ برخه نشته دے په دې تندی میرات کښې

ټرکونه سلیپر دی چې د خان کره روان دی
د یو بازو په سر غریب شو بند په حوالات کښې

بابو دے کۀ نوکر دے په تنخواه ئې ګُزاره نۀ شی
دا غل ولې چالان شو د ګرانئ په دې حالات کښې

ممبر باندې تا وینی ځان ترې هر وختې پناه وی
مُلا خو ځان شمېرلے پاس د اوؤ په سمٰوت دے

پګړیه د ناظیمیٔ خو ترې هغه ورځ شوله کوزه
نن بیا چا اودرولے په ممبر په دې جُمات دے

دا نن چې په دې ملك کښې د دهشت وائرس خوارۀ دی
دا هېڅ نۀ ښکاره کېږی هُم ددې دور آلات کښې

*****

شاه زرخان استیر

○

اُمېدونه مو لوېدلي پرمخيز دي
بد زخمي نۀ په مرهم نۀ په تعويز دي

اوس يې هُم له ګوتې اونيسي روان شي
واكداران مو په شپېتو كښې خپاړيز دي

PUKHTO.NET

كوتك مار ورته سر ښكته تر نامې كړي
ستېكمار وائي بس هر څۀ په تميز دي

دا خواران خوې په سترګو كښې ازغي دي
دا زردار ورته په څۀ دومره عزيز دي

من سلوا كۀ له اسمانه راګُزار شي
د وېشګرو دا تولي دلته پرخيز دي

شاه زرخان استیر

څۀ مغلوبه ژړاګې لـه هـر خوا خېژي
څوك به وائي چې وختونه سندريز دي

د غتانو محلونه هلته روغ دي
دا اورونه لګېدلي سېمئيز دي

ما اسيرَ د خپل سر ويره پېدا شوه
دې ګرانۍ کښې هُم سرونه په انيز دي

*****

# د کلام یوه نظاره

شـــوه کوزه د موسـټـره تماشـــې ته وه ولاړه
څه ښکلې شان جینۍ وه چې به تله د سین په غاړه

سره سپینه لوپټه یې په اوګو خوره وره وه
حېرانه ددې حُسن ته د سین هره څپه وه
سپنډل یې د پاپو نه دې ویستلی خبر یې غواړه
څه ښکلې شان جینۍ وه چې به تله د سین په غاړه

نادانه پېغلتوب کښې وه له ځانه بې خبره
د یو کمر نه بل ته په توپونو وه کونتره
سېزل یې په ښائست باندې صوفیان او شېخان دواړه
څه ښکلې شان جینۍ وه چې به تله د سین په غاړه

شاه زرخان استیر

د زمکې نه اوچت شومه زۀ پورته په هوا کښې
بيا مخې له ئې راغلم د خيالونو په دُنيا کښې
ماوې راځه چې پټ شُو د دُنيا له سترګو دواړه
څۀ ښکلې شان جينۍ وه چې به تله د سين په غاړه

څه لږه شان مُسکۍ شوه خو زما نه مخ په شا شوه
خاموشو د سُورکو شونډو په سر داسې ګويا شو
ونيل ئې خُدائے دپاره مه کړه ما پسې پِشاړه
څۀ ښکلې شان جينۍ وه چې به تله د سين په غاړه

چې دا ئې اووئيل شـــوله روانه شرمِنده شوه
په منډه منډه لاړه شين موټر کښې بيا سوره شوه
اسيرؔ پسې نعره کړله چې لاړه لاړه لاړه
څۀ ښکلې شان جينۍ وه چې به تله د سين په غاړه

*****

شاه زرخان اسيرؔ

○

یو اختر نهٔ شو څو اخترې کېږی
نن مُسلمان کښې څنګک اسلام راغے

یو وې اختر دے بل وې نشته اختر
د مُلایانو دا پېغام راغے

پوتے په علم ئې یقین نشته ده
زمونږ د کلی څنګک امام راغے

چې اختر اوکړو کهٔ روژه اونیسُو
د ګډوډۍ هغه ماښام راغے

اختره تاته څنګک خوشحاله شمه
د مرګک خبر چې د صدآم راغے

*****

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

○

د بهار په مخ دې جوړ نوے بهار کړو
په آئين کښې چې دې ښکلے مخ سېنګار کړو

چې سُور رنګ دې اننګو دپاسه خور کړو
د ګُلاب ګُل دې خپل مخ ته شرمسار کړو

خوشبويانې دې د زلفو خورېدلې
په ګُلشن کښې بُلبُلانو چې چغار کړو

د شفق دا زړۀ چاودلے راته ښکارى
چې خپل رنګ ئې ستا د سرو شونډو نه ځار کړو

چې دې ښځه وهلې زلفې په رُخسار خپل
دا اسيرؔ غريب دې هسې خوار و زار کړو

*****

شاه زرخان اسيرؔ

## قطعه

څۀ کېږی کۀ څۀ اوشول نن مې بيا په زړۀ کښې څۀ راځی
دا د هجران غم دے چې د نمر په پرېواتۀ راځی

څړيکه د زړۀ اوخېژی مرے ته چې راپورته شی
دلته شی بې روحه بيا د خُلې نه بهر نۀ راځی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

لېونے لېونے ګرځمه کوڅو کښې
لا به عقل کله راشی لېونو کښې

خبر په کانړو کۀ ما ولی پروا نشته
يو ځل ترس به هُم راشی دې ورو کښې

شاه ذرخان اسیر

○

لاس مې دی خلاص خو زولنو کښې اوسم
د بڼ طوطی یم په پنجرو کښې اوسم

په څۀ خاطر ترې ګوټ کولے نۀ شم
نور د شرابو په چینو کښې اوسم

له ویرې لاس وراچولے نۀ شم
د ښائسته حورو مېلو کښې اوسم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

د بوراګانـــو بُلبُلانو لرې
د للمې ګُل یم په سوکړو کښې اوسم

د سپین سحر په طمع طمع پروت یم
په تړږمو په تورو شپو کښې اوسم

کۀ مې دا رنګ تغیر او سوے ښکاری
یم مُسافر په سرو لمبو کښې اوسم

د خپل وطن شاړې مېرې یادووم
کۀ د یورپ په رنګینو کښې اوسم

*****

شاه زرخانؒ استیر

وخت د مينې راغے خو اشنا مې مرور شو
ځنگه تنهائی شوه زړهٔ مې غوځ غوځ شو پرهر شو

دلته چې د ژوند مقصد ته اوگورم نور هېڅ نشته
تش د خواهشاتو يو انبار زما په سر شو

وخت سره رسمونه مخکښې راغلل لوئے دېوال شو
نهٔ مې خپل پردی راغلهٔ پکار او نهٔ مې زر شو

ستا نامه کهٔ لويه خو د زړهٔ خوشحالی نهٔ راوړی
ستا خو اے لندنه نهٔ سحر نهٔ مازيگر شو

خپل وطن خو پاتې شو پردی وطن ته راغلمه
څهٔ اوکړم اسيرہؔ چې په برخه مې سفر شو

*****

شاه زرخان استیر

# د يار جُشه

چې خُماری
رنګ دې چشمان واخلی
چې اناری
رنګ دې لبـــان واخلی
د تروږمۍ
رنګ دې زُلفـــان واخلی
زلفو له بوئ دې
د سُنبل نه واخلم
خو غنم رنګی مخ له
رنګ
د کوم کوم ګُل نه واخلم
دا تور مابنام درته
په سترګو کښې رانجه واچووم
دغه نیم نمر دې د سحر
په تندی اولګووم

شاه زرخان استير:

یوې خندا له دې
سپرلے راوړم اختر راوړم
ستا اننګو له
یو نو خبزه ګل
د سبوری د نختر راوړم
پرې د اُفق او د شفق رنګونه اوشیندمه
د زنې خال له دې
په سوات کښې شین چمن ګوړم
د اسمان ستورے دې
په پوزه مېخکے کېږدم
بنو له غشی
چنګېزی او تاتاری راوړم
بیا هِند ته څم
چې د اکبر باچا کنډر مات کړم
چې د جوړدا یو څو هارونه در په غاړه کړمه

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

بیا د سینګار دا جوړېده ستا

په آئین پر ښېږدم

د سپوږمۍ سپینې پلوشې

ستا په جبین پرېږدم

بیا سمندر ته لږ منت کوومه

چې ستا د مخ آبرو ته

لږ شان خاموشه او قرار اودرېږي

خو اشنا

که دغه هر څۀ د دُنیا راټول کړم

اسیرؔ به هغسې په ویره کښې یم

بیا به مې هُم ګوتې او لاس رپېږي

چې څنګه ستا دا جوځه جوړه کړمه

*****

يو ځل كۀ سر ته مې د دار اوخېژوې نو ښه ده
كۀ تهمتونه تمول په ما رالګوې نو ښه ده

شالولكى ګُل پسې ګرځى په عذاب دې نۀ كړى
دغه ګُل پانې اننګى كۀ پټ ساتې نو ښه ده

دى پرهرونه مې تازه مالګې پرې مه دوړوه
كۀ پرې ملهم د خپلو شونډو لګوې نو ښه ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

خبر كۀ زۀ خوك يمه چې تا ته دا خبره اوكړم
خو كشمالے كۀ په اوربل د پاسه ږدې نو ښه ده

ساتې ئې ګونجې د جولا ژاله ترې مه جوړوه
كۀ په سر دغه تورې زلفې خورې نو ښه ده

ډېر ډېر كۀ نۀ وى خبر د سترګو لاندې يو ځل ګوره
بيا كۀ اسيرؔ د خپل محفله راشړې نو ښه ده

*****

شاه ذرخان اسيرؔ

کهٔ لږ خوشحاله شم خوشحال ژوندون راکړه
د تورو شپو له تنهایۍ راله خلاصون راکړه

دغه غمژنې شپې او ورځې سترے ژوند دې واخله
راله ځانګو کښې د ماشوم هغه سکون راکړه

سبا خو راشي خوشحالۍ د پرون نهٔ راولي
سبا زهٔ څهٔ کوومه وخت د نن پرون راکړه

دا ناروغتیا د طبیب نهٔ ده خوارې نهٔ پرې کووم
په ځان کمزورے یم طاقت په زړهٔ درون راکړه

د قول وفعل چې دا تضاد پکښې له مېنځه اوځي
د زړهٔ دماغو او د ژبې کلك تړون راکړه

لاس مې نیولی سر ببر اسیرؔ په بره ګورم
دا سوال قبول مې کړه خلاصے ددې بېلتون راکړه

شاه ذرخان اسیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

خندا چې مې په وخت د خندېدو نۀ وه ما پرېښوه
ژړا چې مې تر عرش د رسېدو نۀ وه ما پرېښوه

بنګړي پکښې مات ښکاري سرې منګولې پکښې پرې وې
دا لاره د پښتو او پښتنو نۀ وه ما پرېښوه

چې خرپ کړي زما تُوره او د خپل مرۍ کړي غوټه
دا تُوره د خوشحال د ننګيالو نۀ وه ما پرېښوه

قيصه چې د هابيلؔ او د قابيلؔ ترې جوړه نۀ شي
خېرات او صدقه د قبلېدو نۀ وه ما پرېښوه

سپوږمۍ په سر ولاړه وه باران هُم ورته راغے
جونګړه د جانان د اوسېدو نۀ وه ما پرېښوه

دا څنګه مجبوري وه چې مې مټو کښې دم ورک شو
منګوله د جانان د پرېښودو نۀ وه ما پرېښوه

شاه ذرخان استير

نادان زړګی مې نور هم ځنګېدل غوښتهٔ نادان وو
خو څانګه ماتېده د ځنګېدو نهٔ وه ما پرېښوه

تهٔ ماته سوک خپېړه وې زهٔ تا ته ډانګ غرګے ووم
ډېره زما او ستا د کښېناستو نهٔ وه ما پرېښوه

سوکې ئې د لاړهٔ راته د هاړ په تنور سره کړه
ګولۍ مې د پرهر د راوتو نهٔ وه ما پرېښوه

اغیارو پکښې ګټې تکولې تول لګیا وو
خبره د جرګو د مرکو نهٔ وه ما پرېښوه

چې ځائے په ځائے په سبورو دغه ځائے پکښې ښکاره شو
دا لار د محبت د لېونو نهٔ وه ما پرېښوه

ما چرته پرېښوده د ور په وول مې وه پښه اېښې
پرېشانه چې ولاړه په زارو نهٔ وه ما پرېښوه

شاه ذرخان استیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ازغی پکښې بلها وو زما ګوتې ئې زخمی کړې
دا څانګه د ګُلونو او غُنچو نۀ وه ما پرېښوه

مزغو ته ئې رنګـــونه د نظر په پاڼه تېر شول
نازکه لولکۍ د رانیوو نۀ وه ما پرېښوه

چې زۀ اسیرؔ پُښتون یم هغه هُم دې پُښتنه وی
نو ځکه فِرنګۍ د راوستو نۀ وه ما پرېښوه

*****

## قطعه

په کوږ وخکی کښې خندا مه کوه ازار به مې کړې
د سترګو قونج کښې ادا مه کوه ازار به مې کړې

چې يو طرف ته سر وهې زلفې دې بل پله ځی
زما د مرګ څۀ بِنا مه کوه ازار به مې کړې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## قطعه

ما د يوې ورځ دوه نزدې مونځونه
په يو وطن او بل وطن کښې اوکړه

د سحر مونځ مې په تالاش کښې اوکړو
د مازيګر مونځ مې لندن کښې اوکړو

شاه ذرخان استيّر :

غږ د محبت به له بې رُخه جانان اوخېژي
کله چې مې ستورے د نصيب په اسمان اوخېژي

راشي چې کوڅې له سر راتيټ کړي دستار اوغواړي
مشر چې د قام شي د قام نهٔ شي د ځان اوخېژي

تله د اخلاص کښې کۀ ئې واچوې په تول ئې کړې
خُدائېګو چيتاکې نيمه ددۀ کۀ ايمان اوخېژي

جام د زهرو ډك کړي بيا ساقي هُم خندنے راځي
شات وي په خوبونو کښې تعبير ئې بل شان اوخېژي

کله ما اسيرؔ هُم چرته ياد کړه کۀ درياد شومه
څنو ته چې ستا په پسرلو کښې ګُلان اوخېژي

*****

شاه زرخان اسيرؔ

PUKHTO.NET
پښتو جالب نیټ

زۀ به درته وايمه چې ښه وائې، ښه وائې ، ښه وائې
خُدائے خبر چې تۀ به راته څۀ وائې، څۀ وائې، څۀ وائې؟

نۀ ګورې چې زۀ ئې راشړلے يم شړلے يم شړلے يم
تۀ خو راته هغسې راځه وائې، راځه وائې، راځه وائې

زه خو درته هسې خپل ځان سترے کړم، سترے کړم، سترے کړم
تۀ خو خبر نۀ ئې هسې هه وائې، هه وائې، هه وائې

پړ چې نۀ يم مړ ښه يم مړ ښه يم ، مړ ښه يم
ياره زورور ئې وړه ته پړه وائې، پړه وائې، پړه وائې

کله به دې دغه روژه ماته کړې ، ماته کړې ، ماته کړې
ښکليه چې جانان به راته تۀ وائې، تۀ وائې، تۀ وائې

ما خو نۀ ئې چا مرور کړے ئې ، کړے ئې ، کړے ئې
ولې د اسيرؔ غزلې نۀ وائې، نۀ وائې، نۀ وائې

*****

شاه زرخان اسيرؔ

لا حوصلې مو ښې ساتلې دومره خوارې نهٔ دی
دا مو له سترګو اوښکې ځی د وینو دارې نهٔ دی

نژدې دې ګوتې راله مه راوړه ګیرې به اوکړی
لا دی تنکی تنکی نوکونه د سکونډارې نهٔ دی

دا تندرې ناوونه ښکارې دا روونه نهٔ دی
سرې پرې تېروځی خو دا د منزل لارې نهٔ دی

هلـه شئ، زر شئ پـه جرګـو شئ پښتانهٔ راغونډ کړئ
ورته د وخت مُغُـل یو شوی د قلارې نهٔ دی

پېغلو په څنګ شئ لوپټې په تربوزک راتاؤ کړئ
لا خو زلمو تُورې اغستې دی وزګارې نهٔ دی

چې هُم ډومبق وی د ډز هُم د ګولو شغ او پغ وی
نو هغه سترګې د چاودو دی چې غمخوارې نهٔ دی

اسیّره غمّو منارو ته واړهٔ څنګ اورسی
زمونږه غمې کېږی شته خو هوښیارې نهٔ دی

*****

شاه زرخان اسیّر

○

په جار ئې اووایه پښتون ته چې دې ځکه وژنم
پتې په بوسو کښې اوبـــو بوتلو ته جوړ نهٔ یمه

خپل کهٔ مې وژنې خو ناپوهه دی خو بیا هُم خپل دی
خو چې مې وژنې په پردو ، پردو ته جوړ نهٔ یمه

زمابـه نهٔ وی کهٔ ملګری وی نو ستاسُو به وی
هغه چې ما غُلام کوی هغو ته جوړ نهٔ یمه

ما کهٔ په مخ باندې وهې درته په بره ګورم
چې پکښې تیتـه شی پګړه، پښتو ته جوړ نهٔ یمه

*****

ملنګ چې له در اوزغلوي سپے به ورله ګوري
دُشمن چې ويروي نو منزرے به ورله ګوري

دا ښکار د اوبو ښکار دے لټ ښتلی پکښې کار نۀ کړي
کونډه کښې چې مهے نيسي چينجے به ورله ګوري

کۀ هر څومره کمزورے وی خو تُوري ته سر نه ږدی
کۀ خپل په خپله نۀ وژني پردے به ورله ګوري

چيچونکے هر ازغے له ښخه اوباسه چې ورك شي
اول کۀ سامبرّے وژني نو سخے به ورله ګوري

کۀ ګُل راشوکوي نو چې په دې هُم ځان خبر کړي
پلو کښې غوټه خوند نه کړی ښه ځے به ورله ګوري

ناصحه د جانان او زما ډيره ښه رشته ده
اسيرؔ کۀ لېونے شو لېونے به ورله ګوري

*****

شاه زرخان اسيرؔ

○

مونږه شاعران د محبت داستان ته هُم رسُو
مونږ د لېونو او سپېلنو جهان ته هُم رسُو

مونږ د لېونی غاړه کښې تور لونګين اچوو
مونږه د سُورکو شونډو نه پاس پېزوان ته هُم رسُو

مونږ د تورو زلفو تورو سترګو ديدار هُم کوو
مونږه د شاهی دربار د سر ايوان ته هُم رسُو

مونږ د مزدورکار د خولې څاڅکے څاڅکے هُم ژاړو
واړه قام چې موړ ساتی هغے دهقان ته هُم رسُو

مونږ چې خپلې سترګې کله پټې کړو بيا ښه وينو
زمکه باندې تګ کوو خو بر اسمان ته هُم رسُو

هسې رنګينی او ښکلاګانې زمونږ شوق دے
ګرځو په لټون کښې مونږه خپل جانان ته هُم رسُو

شاه زرخانؔ اسيرؔ

PUKHTO.NET
پښتو دات نېټ

خبر دے کۀ د مينې محبت سندرې مونږ ليکو
مونږ د ننګيالو سره د ننګ مېدان ته هُم رسُو

مونږه تار د مينې محبت د رباب پېژنو
مونږ د بې رُخئ او بې وسئ ارمان ته هُم رسُو

مونږه د غماز د شونډو تشه مُسکا نۀ ګورو
مونږه په زړګو دننه پټ شيطان ته هُم رسُو

مونږه دُعاګانې په شعرونو کښې ليکلې دي
مونږ له بالاکوټ د سونامي طوفان ته هُم رسُو

مونږ هسې د شپې شوګيرولو خوند اغستے دے
مونږه د سحر د وينښدو اذان ته هُم رسُو

ښه شوله اسيرۀ د تګ لاره مو معلومه ده
مونږه کلك نيولے د الله قرآن ته هُم رسُو

*****

شاه زرخان اسيرؔ

# غمژن مازیګرے

مازیګرے وو زړۀ مې ډوب ډوب شولو
په کور کښې تنګ شومه بهر اووتم
څۀ پښه نیولے پښه نیولے شومه
په ثقالت اوتر اوتر اووتم
ځان مې پردے پردے ګڼلو بیا هُم
هر ځائے ګلونه راته خپل ښکاریدۀ
هر یو به سر را اړولو ماته
خوك به مې مخې ته اتل اودریدۀ
په دې زۀ پوئې نۀ ووم بیا پوهه شومه
چې دا ګُلونه له ما څۀ غواړی
دا ناقراره وو په دې ارمان وو
چې دوئې جانان زما لیدۀ غواړی
ددې ګُلونو شبنمی پانو کښې
د خپل جانان عکس رنګین وینمه
چې اننګو ته ئې سُرخی ورکړې
د نمر ذره ئې په جبین وینمه

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

په هر يو ګُل کښې مې جانان ښکارېدو
ما دا ګُلونه شوکول شروع کړل
څهٔ خندېدل څهٔ موسېدل ګُلونه
نو ما يو ځائے ته ټولول شروع کړل
خوشحالېدلم خندېدلم ورته
ډکې جولۍ به ترې راټولې کړمه
زهٔ خپل نيازبين او نياز پرور جانان له
غُنچې غُنچې به ترېنه جوړې کړمه
رنګونه ګډ مې کړل چې دا ښه نهٔ دی
جوړې غُنچې مې ورانولې بيَرته
بيا به مې بِيرته څو رنګونه جوړ کړل
په مينه ما دا جوړولې بيَرته
غُنچه مې جوړه کړه خوشحاله شومه
چې په خپل لاس به يې اشنا ته نيسم
ځان به خفه کړم چې له ورايه ورځم
دواړه لاسُونه به خپل شا ته نيسم
چې زهٔ راپاڅېدلم اودرېدلم

ایله مې ځان اوپېژنـــدلو بیا
د لېونتوب هغه ګړۍ ختمه شوه
چې مې خپل سر اوخوځولو بیا
زۀ ځۀ خبر ووم چې زۀ چرته ناست ووم

په لار زرګاؤ زرګاؤ میلونه راځي
د سمــنـدر تورو اوبو نه پورې
مخې ته څومره لوئې لوئې غرونه راځي
ستا د ستي ستي زړګي نه قُربان

چې دا سوړ آه او اوښکې ئې اولیـد
ددې ګلونو په ما ترس راغـے
چې دا غمژن مازیګرے ئې اولیـد
اسیر ته ګوره په لندن کښې پروت دے

د خپل وطن نه څومره لرې اوسي
یار ئې د هغه تورو غرونو مېنځ کښې
په لاندې دیر په تېمرګرې اوسي

*****

۲۸ اپریل ۲۰۰۵ء لندن

شاه زرخان اسیر :

نوره مې د ژوند تمنّا اونۀ کړه
مینه مې غوښتله اشنا اونۀ کړه

مینه کښې خلوص غرور ته سپارمه
ما د تاوانونو سودا اونۀ کړه

نن مې ورله سترګې آئینې کړلې
ما د پورې اورې نه غلا اونۀ کړه

تا چې اووې "مړه خو" زۀ پوهه شوم
ما د رقیبانو پروا اونۀ کړه

ما درته تعویذ د غاړې کوز کړلو
تاغه جادوګره خندا اونۀ کړه

څاڅکې د اسیرؔ د اوښکو نۀ وینۀ
چا وئیل چې مونږه ژړا اونۀ کړه

*****

شاه ذرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

کۀ قلارې د غم شپې شوې زۀ به درشم
کۀ سرې د اور لمبې شوې زۀ به درشم

اوس کورونه کنډرونه، کلي وران دي
بېرته کډې کۀ ستنې شوې زۀ به درشم

ګوره هر ځائے د سرتورو پېغلو شور دے
کۀ په سر ئې لوپټې شوې زۀ به درشم

د بارودو ګرد راخور دے په هر لوري
دغه دوړې کۀ خورې شوې زۀ به درشم

اوس د وینو ډک لختي پکښې روان دي
پاکې صافې کۀ کوڅې شوې زۀ به درشم

د اسیرؔ د زړۀ په سر تناکې زور دي
کۀ د الرې غوندې ښې شوې زۀ به درشم

*****

شاه ذرخان اسیرؔ

سرې سرې ته به سرې وائي
کۀ شلتالو ته به شارې وائي

زمونږ په چغو سورو دوئ ښاد من دي
ورته کۀ تۀ ارې ګړې وائي

دا په غريب پسې لا بله سپکه
چې به خادرته ئې ورنې وائي

چې د غريب وينه ښادمنو رانښکه
طبيبه تۀ ورته زيړې وائي

خبره سمه کوه سبد دے پير دے
نۀ ګوزې چا ته خونړې وائي

دا به اسيره خيانت ګره خُله وي
چې تګ تګمار ته مرنې وائي

*****

شاه زرخان استير

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

هسې د ګلونو اننګو بهـــار ئې ځنګ لګی
ځان ته چې ئې پام نۀ وی هغه دیدار ئې ځنګ لګی

بیا ئې چې غرور په سر کښې لوړه مانړۍ جوړه کړی
ناز شی لېونے د لېونتوب سینګار ئې ځنګ لګی

دې ته چې سُبحان الله اونۀ وایم څۀ اووایم
ګوره د سپوږمۍ غوندې حسین رُخسار ئې ځنګ لګی

دا د ښکلو شان نۀ دے چې تُوره واخلی څوک وژنی
دا د قاتلانو اداګانـو شمار ئې ځنګ لګی

هېڅ کله هُم اور په لاس نیولے مئین نۀ سېزی
ډک د رقیبانو دا سرتـــور بازار ئې ځنګ لګی

ما ورته دا خپل زړۀ نخښنه مخې ته ایښودے وو
ګورو چې د ستـــرګو د ښو ګُزار ئې ځنګ لګی

زړۀ ئې تا له درکړو خو دا نۀ چې تۀ پرې پښې کېږدې
دا وو د اسیرؔ د مینې دا اظهـار ئې ځنګ لګی

*****

شاه زرخان اسیرؔ

# ارمان په پردي وطن کښې

د مينې ورېږي يُو خو مينه رانه لرې تښتي
چا سره غبرګه کړو نامه چا ته جانان اووايُو

داسې څوك نشته چې خپل ځان ترې سپېلني لوګے کړو
چا سره خپل تړون شريك کړو چا ته ځان اووايو

PUKHTO.NET

کۀ هرڅو په ښائسته ملکونو ګرځم
خپله خاوره مې پرته ده په بدن کښې

دا نادان زړۀ هغه خـــړې خاورې غواړي
نۀ په چين کښې شوم خوشحال نۀ په لندن کښې

شاه ذرخان اسيّر

ژړه دی بارانونــــــه راوربــــــړی پســـرلے دے
هـر ځائے کښې اوبۀ زنده دی بهېړی پسرلے دے

هر خوا ته چې ورځې نو خوشبويانې په بل رنګ دی
څۀ رنګ په رنګ ګلونه راټوکېړی پسرلے دے

ځوانان په لارو ګرځی هواګانو نه خوند اخلی
مستېړی خوشحالېړی او خندېړی پسرلے دے

څۀ سپین وو او څۀ زیړ وو او اوس شنه په شینکی ښکاری
رنګونه په دې غرونو کښې بدلېړی پسرلے دے

غانټول د للمې مېنځ کښې سپین پټکے وهلے خاندی
تۀ ګوره په خپل ځان چې راغوړېړی پسرلے دے

*****

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET
پښتو داټ نیټ

زۀ د کاروان ځنې جُدا يم جُدا چرته به ځم
وخت ماښامے دے نمر ډوبېږی چې لا چرته به ځم

زۀ په درك د خپل منزل يم سرګردانه ګرځم
پرون ووم هلته نن يم دلته سبا چرته به ځم

دغه زما ملا ماتوونکے ستړے ستړے سفر
کۀ دا وختونه نور تراخۀ شی زما چرته به ځم

څۀ تربږمی دی ناشنائی ده لاره نۀ پېژنم
کۀ د قُدرت په کرم نۀ شوه رڼا چرته به ځم

نا اُمېدی لويه ګُناه ده خو اسيرؔ څۀ اوکړی
هرڅو کۀ تښتمه له دغې ګُناه چرته به ځم

*****

شاه زرخان اسيؔر

○

زړۀ مې مات کړې بيا مې ورو ورو دلاسه کړې

په مزار مې ګُلدسته خوره وره کړې

ځنکدن د مات لوظونو په ما تېر کړې

پرې ښائسته د ارمانونـــو اديـــره کړې

PUKHTO.NET
پښتو د اتشيت

# اختر

دا نظم ما اولیکو، زهٔ په آئیرلېنډ کښې یم، یو دلته مسافری ده، اختر هُم رانزدې دے۔ د خپلو بچو او خپلوانو نه لرې یُو او بل خوا هلته په پاکستان کښې په خړ سېلاب کښې لاهو شوی خپل کلی کوروته ژړېدونکې خوېندې او وروڼه او ملشومان رایاد شی نو اختر خو هسې هُم نهٔ ایسارېږی خو زهٔ ورته یوه آرزو لرم او یوه غوښتنه مې ترې کړې ده

اختره هسې هُم راځې اختره خبر دے راشه
زمونږ په ورانو کلو غلے غلے تېر شه

تهٔ خو به وې چې په نکریزو سرهٔ لاسُونه څهٔ شُو
په تن جامه هغه وارهٔ ښائسته ګُلونه څهٔ شُو
په چم کوڅو کښې مېلې څهٔ شولې تالونه څهٔ شُو
نن په زلمو کښې مستی څهٔ شوله خیالونه څهٔ شُو
دا نغری خو مړهٔ پراتهٔ دی پولاوونه څهٔ شُو
تول سپېره مخی راته ښکاری غوږ مخونه څهٔ شُو
چا ته چې خپل احساس ور نهٔ کړې ساه نیولے تېر شه
زمونږ په ورانو کلو غلے غلے تېر شه

شاه زرخان استیر

اختره ستا نوم اغستو ته د چا زور نشته دے
هغه خو لوټې لوټې ښکاري د چا کور نشته دے
کۀ توک ډوډۍ په شکور کښې ګورې هغه شکور نشته دے
هر څوک نیمګړے د چا رور او د چا خور نشته دے
د چا د پلار سایه لوېدلې د چا مور نشته دے
بس ژړېدو ته هُم طاقت په چا کښې نور نشته دے
چغې سورې مه وهه خبر دے غرېب نیولے تبر شه
زمونږ په ورانو ورانو کلو غلے غلے تبر شه

PUKHTO.NET

د هغې غر څوکې کښې هم اودې سلګۍ پرتې دي
د هر کنډاؤ په دغه سلو کښې زارۍ پرتې دي
په دې خوړګو کښې چغې چغې د ابۍ پرتې دي
په دې ناوونو کښې د پښتو زلمې کړکۍ پرتې دي
په دې دشتونو کښې د مات بنګړو کوکۍ پرتې دي
وئینو خوړلی غوښې نشته زولنۍ پرتې دي
په دې ځایونو په احترام باندې ښاغلے تبر شه
زمونږ په ورانو ورانو کلو غلے غلے تبر شه

شاه زرخان استیر

اختره ګوره مونږ په خاورو خټو سخا ولاړ يُو
په سر مو زوړ څادر نيولے په بېديا ولاړ يُو
خپل اوبو وړی دی اسرې ته دُنيا ولاړ يُو
د نلستې څائے نشته دے سم په نبغه ملا ولاړ يُو
نن رانه تېر شو خو سبا سبا ته بيا ولاړ يُو
دا مونږ په کومه بدبختئ کومه ګُناه ولاړ يُو
لکه اسيرؔ غونډې ژړېږه ژړېدلے تېر شه
زمونږ په ورانو ورانو کلو غلے غلے تېر شه

*****

شاه زرخان اسيرؔ

○

چې اوښکې شوې بې قدره مجبورۍ هُم ستړګې پټې کړې
چې زور د چغو کښښناست بې وسۍ هُم ستړګې پټې کړې

زور د پښغلتوب ئې دومره اولېدو بې وسه شوه
ورېځو کښې پناه شوله سپوږمۍ هُم ستړګې پټې کړې

دا اوګوره نن هغه دے پُښتون په پُښتون دز کوی
اوشرمېده لاړه بې ننګۍ هُم ستړګې پټې کړې

چا د دولتۍ ابۍ په غېږه کښې سر کښښنودو
مخ ئې رانه واړو غېرتۍ هُم ستړګې پټې کړې

دا ئې د پُښتون په يو تړون کښې بېلتون اولېدو
زر د زوروړو بې صبرۍ هُم ستړګې پټې کړې

شاه زرخان اسټير

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

تازۀ تازۀ قبرونه ئې شمار نۀ کړل ادیره کښې
راپرېوته په زمکه لبونې هُم سترګې پټې کړې

غره چې ګرځېدله پاس د غرونو په سرونو
هغې د ننګ تپې د ملالۍ هُم سترګې پټې کړې

اسیرۀ چې پښتون ئې د اغیار په غېږ کښې اولید
تۀ ګوره چې پښتو پښتونولۍ هُم سترګې پټې کړې

*****

شاه زرخان اسیر

تا چې په لنډۍ زنه شينکے خال لګولے دے
ما هُم د زړګی پرهر په سرو وينو وينځلے دے

ولې مې کمزورې دی نازونه دې هم وړے نۀ شی
بيا هم دا نادان زړګے په تا پورې نښتلے دے

وا ئې خله ما خلاص کړه نور د غم اوزغم نه پرېوتم
زړۀ دے زما زړۀ دے درته ما خپل دربخښلے دے

ښومره بختور دے زۀ ئې ګورم چې ئې څنګ راوړم
کوم يو سلائی چې ستا د سترګو نه وتلے دے

ياد يمه همزولو کښې هر څۀ کښې مرنے وومه
يو د سترګو جنګ دے چې ما هر ځلې بائيللے دے

*****

شاه زرخان اِسيّر

○

ځومره دردونه مې په زړهٔ پراتهٔ دي
چې ټول آهونه مې سارړهٔ پراتهٔ دي

د زړهٔ له رازه ځوك خبر خو نهٔ دي
چې پټ زما په زړهٔ کښې څهٔ پراتهٔ دي

دا ارمانونـــه د ګلونو پـه رنګ
څهٔ په ډېران خوارهٔ وارهٔ پراتــهٔ دي

زړګے د طمعې زړهٔ چاودلے ښکاري
ټول اُمېدونه زما مړهٔ پراتــهٔ دي

بیا به يې ګورې خو اسیرؔ به نهٔ وي
لا ځو زخمونه يې اودهٔ پراتــهٔ دي

*****

شاه زرخان اسیرؔ

یو خوا فریاد نرے نرے له پرهرونو اوځی
بل خوا رواني جنازې د ارمانونو اوځی

یو مُسافر شوم خپل وطن او کور له ما پاتې شو
بل د ځیگر نه مې چړې اوس د غمونو اوځی

د سوی رنگ پوښتنه څهٔ له کړې وئیلے نهٔ شم
هغه به څنگه وی چې غوښه له اورونو اوځی

هغه خود لبونے کبړی بله لاره نشته
چې خپل منزل رسېدل ئې له فکرونو اوځی

هر تور مابنام هغسې تور وی تغیُّر نهٔ لری
هر سپین سحر ته مې کتل له نظرونو اوځی

هُم د اسیرؔ غوندې هغه به سوے لوے گرځی
چې ئې فراق کښې ورځې شپې اوس په کلونو اوځی

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET
پښتو داټ نېټ

کوم یو کس چې ډوډۍ، خړپ ډوډۍ خورک شي
بیا د بل کور کښې پرلت ئې په خانك شي

د سخیانو د سخا قیصې کړی ډېرې
خو په خپل کور د شومانو شومه پړك شي

د بل کور کښې ګډ چېلے په خپل کور هېڅ نهٔ
کۀ سابۀ ئې په ډېران د پښرك شي

په خبرو تر دُنیا د خلقو پوهـه
ورته هېڅ نۀ ، کۀ بل هر څومره زیرك شي

زۀ استیر د بل پولاؤ ته هڅه نۀ کړم
چې نصیب راته د خپل کالۀ سوکړك شي

*****

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

په خندا چې مخامخ راته اشنا شي
نهٔ پوهېږم هغه وخت به کله راشي

نهٔ په ورځو نهٔ په مياشتو په کلونو
دغه عُمر به يواځې ګران په ما شي

PUKHTO.NET

نور د خپلو کړو ناکړو نه خبر نهٔ يم
په دې پوهٔ يم چې سبا شي او بېګا شي

پښتو ډاټ نېټ

هغه رنځ دے چې ئې زهٔ يم رنځور کړے
چې د دوو مئينو دوه زړونه جُدا شي

دغه اوښکې د اسېر بې قدره نهٔ دي
تازګي به پرې زخمي زړګي له راشي

*****

شاه زرخان اسير

○

دا چې اوښکې مې بهیږي په ژړا یم
د احبابو د محفل نه راجُدا یم

تماشې کۀ دلته ډېرې زۀ ئې څۀ کړم
زۀ په خپله د خپلِ ځان په تماشا یم

تاج و تخت راسره نۀ وو خو باچا ووم
مجبوري د لاسه دلته کښې ګدا یم

ډېر غمونه لکه سپي راپسې غاپي
کوم یو اوشړمه زۀ ورته تنها یم

د ژوندون د انقلاب آغاز مې کړے
زۀ اسیرؔ ئې منتظر په انتها یم

*****

شاه زرخان اسیرؔ

# امن

لاړمه سر شوم په لټون د پوهه پوهه خلقو
چې څوك د ژوند د حادثو په تجربو پوهېدل
چې څوك د روح د خوشحالو په فلسفو پوهېدل
چې څوك د سترې احساساتو په سلګو پوهېدل
چې څوك په لاره د پرهر په رغېدو پوهېدل
په‌قضاوت او په دليل د فرښتو پوهېدل
چې د شيطان د بغاوت په جوړېدو پوهېدل
ما وې د ژوند په ښکلاګانو کښې کوم رنګ ښه دے
ټولو د امن امن امن نعـره اووهلـه
هيچا اونـهٔ وئيل چې جنګ ښه دے

امن غوړې مخې وی زرخېز وی برکت راولی
امن په زړونو کښې هُم مينه مُحبت راولی
امن په مونږ کښې رورولی او اخوّت راولی
امن په متو کښې زور واچوی قوّت راولی
امن چې جوړ شی بيا په خپله مصلحت راولی

شاه ذرخان استير

امتحان مې د ساده محبت اخلي
چې سلام مې د ورمو په منت اخلي

د فکرونو د اسمان غاړه کښې خاندي
سره منګوله خوځوي چې رُخصت اخلي

ستړي مه شُو کښې دې نن خندا اونۀ کړه
اوس له خېره د لوئې خلقو عادت اخلي

د يو ګُل په اغستو دې لاړې نخلې
پيرزوګانې به مې څومره په ست اخلي

يو نظر د بخښانې هُم درنه نۀ شي
چې هر ځلې د کتو هُم قيمت اخلي

په خوبونو کښې غُنچه د خندا راکړې
خو په ويښه رانه دغه پُرست اخلي

خپله مينه کښې اسيرؔ بې وسه وينې
د خولګۍ په زور مې چم او مالت اخلي

*****

شاه زرخان اسيرؔ

PUKHTO NET

# ریاکار

په تندی کښې مهراب ښه دے
د سجدو ښه نمونه ده
زړهٔ کښې بت چې دې ساتلے
د هغې کعبه کړه ورانه

تهٔ د شپې توره تیارهٔ کښې
خپل ابلیس ځان له راغواړې
بیا د ورځې فرښتې ته
ځان حاضر کړې چې زهٔ دا یم

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

تهٔ بې شکه شراب نه څکې
ستا په خُله برغولے پروت دے
تهٔ د وینو کنډولې څکې
مونږ وائې ګُناه نهٔ کوو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دا دوه رنګې رنګ دې ورک شه
په یو رنګ شه چې ښکاره شې
یا د تورې شپې بلا شه
یا د ورځې سپین مُلا شه

*****

ډېرې مې یادېږی یاره ستا سترګې
ځکه خو خوږې نهٔ شوې زما سترګې

څهٔ رنګه اشنا زهٔ تا له درشمه
ما پله نیولې دی دُنیا سترګې

خلق زما ډېر وو خو نن څوك نشته
ما نه اړولې دی هرچا سترګې

خبر کهٔ لبونے یمه زهٔ روغ به شم
تا کهٔ راته اوښودلې بیا سترګې

زهٔ اسیرؔ د چا دپاره ژوند کووم
تکې سرې زما دی په ژړا سترګې

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

○

زهرژن وختونه راغلل تېرول يې په ما ګران شُو
ځيګر خونې ماښامونه شمېرول يې په ما ګران شُو

څۀ نرې نرې دردونه چې ګرېه په ګرېه راشي
څۀ درانۀ درانۀ غمونه چې زغمل يې په ما ګران شو

نۀ ليده يې سپين سحر شي نۀ ليده يې تور ماښام شي
چې سحر کوم شو ماښام کوم بېلول يې په ما ګران شُو

څۀ خور رنګ د ګُلابونو د يار مخ شفق کښې ښکاري
خو زما په نازک خيال کښې تولول يې په ما ګران شُو

يوه چغه د ارمان ده د ګوګل نه وتل غواړي
دې دُنيا ته به ښکاره شي اودرول يې په ما ګران شو

*****

شاه زرخان استير

سر مې د یار غېږ کښې څو خبرې ئ په خُله غواړي
دا څۀ لېونے دے څۀ څۀ ما نه زما زړۀ غواړي

دا لکه ضدي ماشوم په ذېل اموخته شوے دے
پوهه چې پوهېږي چې څۀ نۀ وي هغه نۀ غواړي

راشئ راورېږئ د اشنا يادونو ورو نۀ شئ
مړاوي مړاوي بوټي د باران يوه شبېه غواړي

وچې وچې شونډې د فراق هوا ته اوچاودې
بېرته رغېدو له د پشمين ننګي خوله غواړي

بيا د ارمانونو سترګې د وينو ډنډې شوې
ډېر د محبت د اور د زوروه نه واتۀ غواړي

نۀ مې د شپې خوب نۀ مې د ورځې راحت اوليدو
ګرانه شوه اسيرَه دا سفر نور پرېښودۀ غواړي

*****

شاه زرخان اسيرؔ

قصور وار نهٔ يم قصور راته خپل ښکاري
چې ياري کښې لاس وهنه د بل ښکاري

پټ په پټه د خپل زړهٔ په خوښه ګورم
دا کارونه راته خُدائيګو د غل ښکاري

درته کوم يو خوا ته تاو شم چې ښائسته ئې
ګُل له هر لوري چې ګورې نو ګُل ښکاري

علامه د محبت دې راڅرګند شوه
سينګار کړې چې دې ياره اوربل ښکاري

کهٔ نظر د بې رُخۍ دې په ما پرېوت
دا زړګے به بيا زما درته سول ښکاري

ستا کاږه واړهٔ کاتهٔ د سترګو لاندې
راته سم لکه بې تُورې اجل ښکاري

ستا يوې نرۍ خندا اسيرؔ ګُلزار کړو
رنګ ئې خومره زر تازه شو بدل ښکاري

*****

شاه زرخان اسيرؔ

○

غم چې مې خپل وی نو مُسکے شم په خندا شم
غم چې د بل وینم غمژن شم په ژړا شم

دغه د غم زپلی زړۀ ته دلاسه څنګ ورکړم
خو غلے ورشم غلے کښېنم غلے راشم

دا یزېدی او حُسېنۍ قیصې خو تولې اورم
خو ماتمی دلته په بله کربلا شم

راته څوانی کښې دا اوږدې مزلې هېڅ هُم نۀ دی
خو دغه غرۀ د ببلتانۀ ته وارخطا شم

راته ئې وېلې چې اوس لاړ شه بیا به زۀ درشم
خو کړېدلے زۀ د بیا په طمع بیا شم

زۀ اسیرؔ به هُم په دې حالت خوشحال یم
کۀ د یار په غم کښې توئ اوښکه د چا شم

*****

شاه زرخان اسیرؔ

خاموشي شي په اسمان کښې تېره راشي
بیا په سترګو کښې د اوښکو پېره راشي

پړسېدلې سترغلې د خوب ارمان کړي
خو د پاسه پرې تازه شوګیره راشي

په نامه د بېلتانهٔ چې تقدیر ډک شي
لبونتوب د هلې ګولې سره راشي

چې په خوب کښې راته لږه راښکاره شي
لکه شاه چې د خبرګرو کره راشي

چې د خپلو په لیدو پسې زهیر شي
د زړهٔ څړیکه مې مرۍ ته بره راشي

ما اسیرؔ به هجران کښې تسکین راشي
کهٔ ستا یاد مې په خیالونو پوره راشي

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ورك پردے وطن شه پکښې جگه شمله ورے نۀ شم
ډك پردے چمن دے ترېنه گُل هُم بوئ کـــوے نۀ شم

ډېر ډېر راپسې دی وائی خپل پُښتنے رنگ پرېږده
دا مې کمزوری ده پُښتونخوا له پرېښودے نۀ شم

دلته تشه غېږه خپلې غېږې له جانان غواړی
خو کوټ په ځائے د زرو په امبل کښې ایښودے نۀ شم

خبر کۀ د جوس په زور و شور کښې رانه اوشلېږی
کلکې په گرېوان تنهې هر چا ته پرانستے نۀ شم

یو خوا بل خوا گورم یو خواخوږے دلته نشته دے
چغه د پرهر پرهر زړگی نه راوستے نۀ شم

حُسن شته اسیرہ څرېکې څرېکې زړۀ کښې جوړې کړی
خو دغه پُښتنه له حیا ډکه هېروے نۀ شم

*****

شاه زرخان اسیر

○

د بچي ګوتې د ټوپك د ماشې لر کړه
دغه ګوتو کښې قلم د دورمې ورکړه

مصلحت ورته د ننګ په تختۍ زده کړه
د ناموس په "الف، ب" ئې ښه خبر کړه

چې تلې ئې د نفرت د ډنډ نه اوځي
ورته مینه پړاقه خور وور سمندر کړه

د پښتون د شملې قدر ئې پـه زړۀ کړه
ورته جګ کاټۀ بې زېره زده په زوَر کړه

د حِرص دا باب ئې ټول د کتاب لر کړه
د اخلاص په پیمانه ئې ډك ترسـر کړه

شاه زرخان استیر

PUKHTO.NET

دا زنځير د غلامۍ ئې ريز مريز کړه
په غيرت په شهادت ئې بختور کړه

خپله نيمه ډوډۍ ښه چې پرې خوشحال وی
د خيرات د وېش د صف نه ئې بهر کړه

چې ئې مور په ځنکدن کښې ارمان نۀ کړی
ربه خلاص دا پښتانه ټول د سفر کړه
*****

شاه زرخان استير

زړۀ به مې څۀ شي کۀ د مينې دا عادت پرېږدي
لکه بې شال بې منجوره څوک زيارت پرېږدي

موده مې اوشوه چې ورتلم اوس څکه نۀ ورځمه
دا په خفګان کښې يو وزير چې وزارت پرېږدي

څنګ وار خطا شومه چې غږ اوشو جانان دې راغے
چې زلزله شي هر څوک هرڅۀ په هيبت پرېږدي

چې تول زلمي زمونږ د کلي ډلې ډلې لاړ شي
نو ګونګ فرياد ئې د تندي په څهره کوت پرېږدي

چې د پردي وطن په خاوره ئې پوستکي خړ شي
ورته طبيب د رغېدنې نصيحت پرېږدي

سپوږمۍ به بيا زمونږ محفل ته په خندا راشي
کۀ چرته لمسه کښې د ستورو اطاعت پرېږدي

په دې پوهېږي چې اسيرؔ کلي ته بيا راغلے
څکه يوې سترګې ديدن له ور کښې وت پرېږدي

*****

شاه زرخان اسيرؔ

PUKHTO.NET

○

کله کله شو غلط په اندازه کښې
چې شك واچوو په خپله ځان ته زړۀ کښې

ټول وطن مو د ټانګو د رکشو ډك دے
مرسډیز راته ښکاره کړی په ډرامه کښې

د شین سترګو د تور زړونو نه هوښیار شه
د تور زړونو به بد اومومی په ښه کښې

شوې غلط د مُلایانو چم ته لاړې
سرودونه کوی خوند په مېخانه کښې

لالمئیز محبت ډېرې اوښکې غواړی
بې د نمه تېغی نۀ راځی دانه کښې

ململین زړۀ نه سین وړی کاڼے جوړ شی
چې څرخین شی تاؤ راتاؤ د وخت څرخه کښې

شاه زرخان استیر:

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

خیال مې بیا هلته زوَړندې شونډې ناست وی
اخِر څوك به وی خوشحاله په پنجره کښې

کۀ پېغور د ټکېدلی مخ نه غواړی
بوډۍ هُم څوانه ښکارېږی په پرده کښې

کۀ اسیرؔ د غم له زوره وتِل غواړې
په اتۀ اندامه پرېوځه په سجده کښې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

*****

شاه زرخان اسیرؔ

# قطعه

چې تور لحد سورے کوی او پکښې سپین لتهوی
څوک لېونی دی چې په نن وخت کښې تسکین لتهوی

پکښې هر چا ته چې عېبونه مخامخ ښکاره شی
د آئین ګر سره اسیرؔ څنګه آئین لتهوی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## دوه شعرونه

ساقی دا دومره اختیار چا درکړے
د مېخانې په تخت خور وور پروت ئې

دا د ویشلو کار دې چا له ورکړو
چې خپله جام باندې نسکور پروت ئې

# ماوئیل !

ماوئیل چې یو شپه به غبرګ له راشي
زۀ بالښت به د ر ته خپله ښنګل کېږدم
د ګُنا خیرے به تول زما نه یوسی
چې د شونډو د زم زم کنډولی اوڅکم
نو د هغې جنتي لمحې په طمعه
ځان په اور کښې د دوزخ مې حِصار کړم
دا ازغنې دډې ښنګه کټ له وروړم
دا د لیچ وهلې سترګې نۀ پتمبرې
ورځې شپې ځۀ چې مودې شوې پکښې تېرې
ما ځارله هغه شپه په ما رانغله

شاه ذرخان استیر

PUKHTO.NET

ستا دا زلفې په څنګل مې اودې نۀ شوې
زما ډډې په سکروټو نۀ لګېـــږي
د ګُنا خيرے مې پاك بې زم زم نۀ شو
زما غاړه بې له تا نه توده نۀ شوه
ما اسيرؔ درته څنګل خوره ايښودې
خو نۀ زۀ چرې اودۀ شم
او نۀ تۀ په خوب کښې راشې

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

کور مې ورانېږی راته دا د غل د مله ښکاری
ډېر نهٔ پوهېږو خو دا تهوقه راته بله ښکاری

ربه پخې وربخې راوله باران راخکے کړه
په سپېږو شړو کښې د اوښکو پونه کله ښکاری

زهٔ ئ نازونه د کمزوری تن په سر ګرځووم
ورته نیازونه څهٔ خشاك او څهٔ خزله ښکاری

په وچو شونډو ارمانونه مې پارِ پارِ پراتهٔ دی
د اُمېد دشته مې خالی پرته بې ګُله ښکاری

هغه هُم وخت وو پېښور به په کابل ژړېدو
اوس پېښور کښې لمبې خېژی د کابله ښکاری

څهٔ په حکمت ئ جوړوه اسیرّه ماته نهٔ شی
د یارانې د کونډېږ خاوره دې شګله ښکاری

*****

شاه زرخان اسیّر

یا مې دا وړی نظرونه په جانان ماړۀ کړه
یا مې لږ ښه په ارمانونو قاتلان ماړۀ کړه

د محبت غوښې پرې تولې زما اوخوره خبر دے
خو د نفرت د کوڅې وری خاماران ماړۀ کړه

تکه ماری ده د حرص تنده پرې نۀ ماتېږی
ور سترګی زړونه د درياب په لږ تاوان ماړۀ کړه

لږې دې اوشینده خورې ورې خوشبويه زُلفې
پرېږدوه نن په خوشبويو باندې ګُلان ماړۀ کړه

ربه پخې وریځې راوله چې سبوړے جوړ کړی
یا مې په غوښو په بیایان کښې دا مارغان ماړۀ کړه

یا دې دا زړۀ له سینې اوباسه چې درد قلار شی
یا دې اسیرؔه په خاورین تسکین چشمان ماړۀ کړه

*****

شاه زرخان اسیرؔ

وحدت چې په شمله کښې د پښتو مخلې ښکاري
اغیار راته د زړونو په مانو ختلې ښکاري

اظهار د محبت مونږه په کوزو لېمـو کړې
دا نن څکه په مینه کښې دستار لوېدلې ښکاري

دا څنګه پښتنې وینې له جوشه نن خالي شوې
دا زړهٔ راته سړو سړو سینو نیولې ښکاري

هر خوا ئې ګروی څوک په چاړو څوک په نوکونو
خو کلك قوم لکه ښکر د زمانو کوتلې ښکاري

یو ګُل چې په شینکو او دنګو غرونو کښې اوسېږي
تقدیر ئې د سُور اور په سرو لمبو لیکلې ښکاري

اسیرهٔ چې ځائے نهٔ شو د همه دُنیا په کومې
تاریخ د پښتنو به په پښتو سپېڅلې ښکاري

*****

شاه زرخان اسیر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

لکه د ناوې چې سرۀ زر ښائست شو
نو پُښتونخوا د خرِ خیبر ښائست شو

کۀ د چمن مالی ګلونه یوړل
ښه شوله دا چې د دلبر ښائست شو

چې چاۓ غم کښې ماښامونه سبزل
سحر راوختو د نمر ښائست شو

څم د بابا په څلی زېرے کووم
چې پُښتنې شملې له سر ښائست شو

اسیرؔه اوس کۀ پُښتانه پوهېږی
یو لر و بر یو خو د لر ښائست شو

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

## دوه شعرونه

چمن مو جوړ کړو خو مالي غواړي
پښتونخوا اوس پښتونولي غواړي

د خپل ناموس او د حيا ګټې له
کونډه برېتونه ننګيالي غواړي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## قطعه

تندے مې د ماما دے چې سجدو اوسولوو
روژه وي ډوډۍ نۀ خوري د قرآن خوړو ته جوړ دے

حرم کښې طواف اوکړي بيا شېطان په ګيټو ولي
ګوټونه د زم زم کړي د انسان خوړو ته جوړ وي

شاه زرخان استير

د خوشۍ غر په دې لوړ سر کښې راته هُم ښکارې
په بې پاياوه سمندر کښې راته هُم ښکارې

څوك د سکون په خوب اوده پروت وی په ډېره ناوړی
د زاره چاودو په پرهر کښې راته هُم ښکارې

د منائيز کور دغه سبوری کښې هُم تا وينمه
د تاو تودوخی په دې نمر کښې راته هُم ښکارې

هغه هُم رنګ چې د خندا په رنګينو کښې ګډ شی
په چاودو شونډو غوڅ ځيګر کښې راته هُم ښکارې

هلته هُم ئې د مُحبت هغه بې وسه لاس کښې
ددې کرکژن غرور په ور کښې راته هُم ښکارې

په مړو کتو ئې د اسيرؔ چې هر يو رګ خوله شی
د بې وسۍ شکوم نظر کښې راته هُم ښکارې

*****

شاه زرخان اسیر

دا زمونږه څۀ رنګه غمخوری شُو
مونږ خو د سړو لمبو په سېوری شُو

مونږه به پرې څنګ په کلکه ناز کوو
دا خو نۀ د روری نۀ د خوری شُو

اوس خو د مارغۀ د سېوری ویره کړی
ولې هغه کلك زړونه کمزوری شُو

مونږ ورته په خپله لاره اوښوده
دا خو د غلیم کاکا د کوری شُو

څئ ملګرو مونږ چا له راغلی یُو
دا خو نۀ د پورې نۀ دووری شُو

لے ساده اسیرهٔ تۀ ئې لر ګــورې
لاړله هغه د اسمان ستوری شُو

*****

شاه زرخان اسیؔر

# د وطن فریاد

زۀ ستا وطن یم د پردو دې کړمه خپل دې نۀ کړم
توپک ټوپک ګولۍ ګولۍ دې کړمه ګُل دې نۀ کړم

په هر کنډاؤ کښې مې په وینو باندې ځلې ښکارې
ستا په بارودو مې وران شوې هر یو کلې ښکارې
په هره کوڅه کښې مې د وینو لختې تلې ښکارې
هغه د سپورې او ښائست بڼ سوزېدلې ښکارې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې پېدا شوې یم نو خلاص د جنګ جدل دې نۀ کړم
توپک ټوپک ګولۍ ګولۍ دې کړمه ګُل دې نۀ کړم

خلق په مخکښې ځي تا زۀ ببرته په شا بوتلمه
تا د نړۍ مخې له زۀ په وینو سخا بوتلمه
دا لاس نیولې دې عاجز درله د چا بوتلمه
ګُناه خو ستاسُو ده تا زۀ په څۀ ګُناه بوتلمه

زۀ د سیالۍ د کاروانانو سره مل دې نۀ کړم
توپک ټوپک ګولۍ ګولۍ دې کړمه ګُل دې نۀ کړم

شاه زرخان استیر

په ما کښې ښه فصل پېدا شي د پردو خوراك شي
لاړ شي د سرو کافرو ملك ته د هغو خوراك شي
زما بچي له لوږې مړۀ شي د چينجو خوراك شي
څۀ د قحطونو سېلابونو زلــــزلو خوراك شي

جوړ شي خفګان په نوي نسل باندې ښکُل دې نۀ کړم
توپك توپك ګولۍ ګولۍ دې کړمه ګُل دې نۀ کرم

زما ســـــينه ده ځانګوټې للـو للـو مې ناورې
تۀ د دُنيا حِرص کښې ډوب شوې اللّٰه هو مې ناورې
په ما چې سر ورکوي چغه د هغـو مې ناورې
او هُم فرياد د مجنونانو لېونـو مې ناورې

د زمانې او د زمان په رنګك بدل دې نۀ کړم
توپك توپك ګولۍ ګولۍ دې کړمه ګُل دې نۀ کرم

*****

شاه زرخان استير

PUKHTO.NET

ژوند مې اوخ کړو چې قرار به پکښې راشي
د تاودۀ پوکې اثار به پکښې راشي

دغه دشتې مو د زړۀ له تاوه سرې دي
کۀ په سبورۍ شو بهار به پکښې راشي

د وخت ژرندہ لا پارچاؤ نۀ ده چلـېږي
خبر زمونږ د چوتي وار به پکښې راشي

خپله لاره چې بې لارو ته پرې نۀ ږدئ
دا رانیسئ څۀ په لار به پکښې راشي

د قبلې له مخې تورې وربخې راغلې
کاروان تېز کړئ څۀ ناتار به پکښې راشي



PUKHTO.NET
پښتو بُک لېب

بې ازمېلو خو د پیش نه هُم بۀ جوړ شی
مټ چې وازمو نو اختیار به پکښې راشی

تۀ خو وې خو په راتلو به هغه راشی
نور به څۀ شی انتظار به پکښې راشی

نن مې بیا د خوب لیدو ته تلوسه ده
چې اسیرؔ د مینې یار به پکښې راشی

*****

PUKHTO.NET

رقیبان ئې بُلبُلان د بُلبُل نهٔ کړه
تهمتونه چا وړپورې په ګُل نهٔ کړه

دا دردونه ښه ده نن څهٔ سبا راشي
ښه ده تټول ئې راپسې په یو ځل نهٔ کړه

نظرونه ئې قدرې په ترس کښې لاړه
ښه شوه ښخ ئې راته سم په ځیګر نهٔ کړه

زهٔ د دیر په سنګین غرونو کښې لوئې شوے
چې خیالونه مې یورپ هم بدل نهٔ کړه

څومره کم دې د اسیرؔ نصیب کښې ورکړه
ښائستونه ئې راتول په غـــزل نهٔ کړه

*****

شاه ذرخان اسیر

PUKHTO.NET
پښتو پاڼه

○

چې خپل بچی خپل کور کښې وژنئ نو موړې نۀ شوئ
جنګ کۀ ګټئ د غېرتي ابې راوړې نۀ شوئ

چې پکښې زور هُم د ماشي د کښېنولو نۀ وو
وحشت راندۀ کړئ په دې مړې پښه نیولی نۀ شوئ

بس جنازې اوچتوو څوك ئې څـۀ شمار نۀ کوی
زمونږ خو ولی خوږېدل خو تاسُو ستړې نۀ شوئ

د زمانې د خاښ ښارونکی به مو څنګه ګوری
په نن دستور کښې کرکه شوئ پیاوړی نۀ شوئ

زمونږ د چم کوڅو د پوړې چم نه پاتې راغلئ
چې د اسیرؔ په وینو سرې نۀ شوئ ککړې نۀ شوئ

*****

شاه زرخان اسیر

# قطعه

ما به سر په څنګانه کړو
تا مخ پټ په فلاوه کړو

ستا د ناز نه مې خوند واخست
ځان مې ښه درته ساده کړو

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

○

د چا په خُله کښې دې د زهرو پونۍ جوړې کړلې
د چا په خُله کښې دې د ګوړې چکۍ جوړې کړلې

د چا بې داغه مخ په سرو دوکونو اوداغی څوک
چا د داغدار مخ دې ابرو ته څوکۍ جوړې کړلې

څوک دې د چادر کښې ملنګ کړو دیوې لپې خبر ته
چا د سرو زرو د تختو نه ماڼۍ جوړې کړلې

په چا دې رحم چې د زور دوپالی غاړې شلوی
چا تش زینړاوی ته د پرخې ګړۍ جوړې کړلې

د چا خو چغه د توبې هُم هلته نۀ رسېږی
چا له دې کور کښې هُم حرم ته کړکۍ جوړې کړلې

شاه زرخان اسیر

چا خپل پولۍ لاس وی نیولی بر اسمان ته ګوری
د چا خندا په دې ژړا خوشحالۍ جوړې کړلې

اسیرّه چا ته به دا تنګک قبر هُم پړاقه ښکاری
چا ددې پړاقې دُنیا مخ کښې کرخۍ جوړې کړلې

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

شاه زرخان اسیر

ژوند چې نېستي اووهي هغې ژوند ته پېغور وائي
مست چې لېوني شي د هغو چغو ته شور وائي

چې ورکړه درکړه اوشي ډېره ښه شي مخه ښه شي
چې ورکړه پکښې نۀوي درکړه اوشي دې ته پور وائي

څۀ له مې پوښتې زما په کور او خپمه څۀ کوې
مړې خو کور نۀ لري د مړو کور ته ګور وائي

خلق ماښامونه شمېري سپين سحر ته نۀ ګوري
ځکه سحر روڼ وي خو ماښام ته خلق تور وائي

يو ورته په بدو سر شي بل ورته په غوړو کوڼ
دے حالت کښې خلق زمونږ کومې خوا ته زور وائي

شاه زرخان اسيرؔ

مشر چې د قام شي او په دې نامه خپل ځان موړ کړي
دې ته پښتانهٔ حُجره جومات کښې سړي خور وائي

ښه به وي کهٔ خپل پښتانهٔ خپلو کښې ښه ژوند اوکړي
دا وخت به را نهٔ شي دې ته هسې خيالي کور وائي

وي چې د غرور نه ډك او ښه په تالي پاس کېږدي
دے کهٔ په سر سترګې لري هُم ورته شمکور وائي

*****

شاه زرخان استیر

پخوا خو مونږه دلته ازمري وو ډېر ليدلي
اواز چې د مياؤ مياؤ دے پِشوګان له کومې راغله

د بر ګودر په بڼ کښې خپل طوطي وو مونږ ساتلے
اوس هره ژبه وائي تيغکان له کومې راغله

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

شاه زرخان اسير

## ما وې جانانه ته به راشې

د جانګړ کټ پیاړمه مې راښکه
دوه څنډین بالخت مې راوړه
د چرګې په بره غاړه
مې ګُل ګُل لمسی خوارهٔ کړه
نالبکی کښې د غوزانو
څو چغجې مې درته کېښوې
کنډولے مې درله ډک
د کورنی ګبین هُم راوړو
د کوټې په مات تلی مې
درته اوبهٔ هُم اوشیندلې
د دېوال په هر ډیوټ مې
درته څو ډیوې کړې بلې
یو پنډوکے مې ترې جوړ کړو
څهٔ جامې چې وې مخلې
هره ستنه کښې هر مېخ ته
ډمبر ګلی مې امېل کړه
کسمالی مې څانے په څائے هُم

شاه زرخان اسیّر

په برګو کښې وو تومبلې
یوه غُنچه د ګُلِنګس مې
د کتوی، په تاخ کښې کېښوه
د دُرشل د مخې تولې
خاورې دوړې مې جارو کړې
د چوکاټ نه مې چاپېره
څهٔ څُلقینې توتې تاؤ کړې
ما ډېر ښهٔ تیارے اوکړو
چې جانان به نن شپه راشی

خــو

په دې ویره ووم جانانه
ستا به کوم ځائے دلته خوښ شی
چې بې زورو کښې زور اچیٔ
دا د ړوند مُحبت زور وو
ما ترې تا ته محل جوړ کړو
کهٔ جونګړه زما کور وو
شپه روانه زهٔ لګیا ووم
ما وې دا ګنې اوړده ده

شاه زرخان استیر

ما خو د انۀ وه ګڼلې
چې لېلا هلته اوده ده
رانه لرې شان شوه مخکښې
زۀ ئې روستو څان نه پرېښوم
زۀ اسيرؔ زړۀ ماتے نۀ ووم
هلته غږد اذان راغے

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

ستا په يو نظر لوګې شمه
ځان مې بيا ځان نۀ وي څوك پردے شمه

ډېر کۀ زۀ د وخت د لاسه ستړے تم
ستا په يو نظر دمه کېدے شمه

زۀ خو نور لتا څۀ ارزو نۀ لرم
هسې يو نظر درته کتے شمه؟

بيا دې راته خبر کۀ سترګې مړې کړلې
زۀ دې د نازونو پېتے وړے شمه

حُسن ته دې ګورم لمبه کېږمه
زر به د ايرو يو لوئے ډېرے شمه

زۀ اسيرؔ په شاړو ژوندون نۀ غواړم
وايه ستا د کور پله راتلے شمه؟

*****

شاه زرخان اسيرؔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

ترېنه تلل دی په خندا کۀ په ژړا ځم
یوه ورځ به د دُنیا نه خامخا ځم

نۀ په خپله رضا دې دُنیا ته راغلم
کۀ بیا ځمه هُم به زۀ ترې بې رضا ځم

د ژوند کاروان دے د مرګ منزل ته درومي
هېڅ اودرېږ نۀ په مخکښې کۀ په شا ځم

بې اختیاره او بې وسه دومره زۀ یم
خپله لار کۀ سموم په خوښه ستا ځم

دغه مات ګوډ عبادت مې تۀ قبول کړې
ګنې تور لحد ته هسې نیمه خوا ځم

ستا د علم د نظر نه څنګه پټ شم
کۀ هرڅو د خلقو پټ پناه په غلا ځم

شاه زرخان استیر

PUKHTOON.NET
پښتو کتاب نيټ

څو مره ځان مې پسې در په دره ورك كړو
دوه لاسونه به خالي له دې دُنيا ځم

په وختونو په عُمرونو هسې ناز كړم
پته نشته چې به نن ځم كهٔ سبا ځم

يا به زر وي يا به پس په دې پوهېږم
زهٔ اسيرّ به د مرګ خُلې له په رښتيا ځم

*****

# پردے ښار

نهٔ پکښې خپل څوك نهٔ دا ښار خپل وو
نهٔ ئې كاتهٔ نهٔ ئې ګفتـــار خپل وو

ما ته خپل ځان پکښې پردے پردے شو
نهٔ دا کوڅې نهٔ دا بازار خپل وو

نهٔ مې د کلی نهٔ د کور لاره وه
نهٔ پکښې کور خپل نهٔ روزګار خپل وو

له شمېره تېرې وې پې مخې ښېغلې
نهٔ پکښې څېر نهٔ ئې سينګار خپل وو

ټولو د شك په نظر ما ته کتل
نهٔ دا ګلونه نهٔ ګُلزار خپل وو

شاه‌زرخان استیر

PUKHTO.NET

دلته محتاج يۀ زۀ د خپل کلي کـړم
چې هم رقيب او هم مې يار خپل وو

ځار شم د خپل کلي د خړو کټو
چې د ګودر هر يو چينار خپل وو

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

دلته اسيرؔ د بل په خوښه چورلي
ښه يۀ وطن وو چې يۀ کار خپل وو

*****

شاه زرخان اسيرؔ

ارمانونه قتلووم خپل دا زۀ خنګه زورور یم
ځان ته کله ګوته نیسم په خپل بدو ښه خبر یم

د ګلونو په چمن کښې په زور ځان خوشحالوومه
زړۀ مې کله خوشحالیږی بې له یاره، مُسافر یم

د دُنیا په ګټه سر یم خو د یار مینه مې بائیله
څۀ د زیان سودا کومه عجیبه شان سوداګر یم

پاتې راغلم په حِساب کښې دغه عُمر چې مې تېر شو
چې بائېلات کووم کۀ ګټه کۀ تر اوسه سر په سر یم

په دُنیا دې جنت ورکړو مونږه غاړې ته ئې راغلو
دا د کوم ستم نامه ده چې بهر ولاړ د ور یم

زۀ اسیرؔ به څنګه وایم چې کوم درد لرمه زړۀ کښې
د لیلیٰ چې مجنون ببل شی هغه څړیکه د ځیګر یم

*****

شاه زرخان اسیرؔ

# غوښتنه

څۀ غبړه غبړه دې کړل
مړوند ته ځان جوړوی
ستا د جهان غاړه کښې
ځان له جهان جوړوی
نرۍ رڼا د شمعې
د ائینو محل کښې
چې خپل ځان اوبربښوی
د ماښامو بدل کښې
زۀ هُم بنده یمه ستا
زۀ هُم یو زړۀ لرمه
زما هُم شته دے احساس
احساس ته پړه لرمه

شاه زرخان اسیر

PUKHTO.NET
پښتو دانټرنیټ

زهٔ هُم څوانی لرمه

زهٔ هُم مستی لرمه

زهٔ به په دې مُجرم يم

هستی نيستی لرمه

کهٔ جوړوې ئې نو بس

د خوند دُنيا جوړه کړه

دوئ له هغه جوړه کړه

او ماله دا جوړه کړه

د دوئ نه دا ماخله

ماله هُم دا راکړه

د دوئ خندا ماخله

زما ژړا واخله

*****

لندن ۲۰۰۹ء



PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

چې څان کړم سپېلنی لوګے لوګے درنه چاپېر شم
نو هله به زۀ ستا د عاشقانو صف کښې شمېر شم

حالاتو رانه سم د بې وزرو مارغۀ جوړ کړو
الوت ته چې څان جوړ کړم په جاخونو کښې راګېر شم

هېڅ پوۍ نۀ یم چې کوم یو به وی ستا په خوښه بره
چې ګُل شم د غانټول کۀ درته بوټے د نمبر شم

چې ستا په تصوّر او په یادونو باندې مست شم
کوځې پردې پردې وی پکښې غلے تېر شم

وختونه په سفر کښې کله کله طوفانی شی
زما نه نۀ هېرېږې هسې نۀ چې ستا نه هېر شم

د دیر د هر یو کلی په کوځو کښې چې شم ستړے
دمه په ملاکنډ شمه اودۀ په سوات بونېر شم

*****

شاه زرخان اسیؔر

○

دومره په ګرانه باندې ګور نهٔ اخلم
درنه د مینې جام نسکور نهٔ اخلم

وربانديې نوم د غنم رنګې پروت دے
په ځان ددغې ښکلې تور نهٔ اخلم

دا ګناه نهٔ کړم چې ثواب مې یوسی
د نصیبونو کار په زور نهٔ اخلم

کهٔ ساه مې خېژې نو هُم مه راګوره
دغه احسان دې په ځان پور نهٔ اخلم

غلے چې درشم غلے غلے ګرځم
ستا دغه غونډ کلے په شور نهٔ اخلم

لکه د بت پښان لوګے لوګے شوم
حېران په دې یم ولې اور نهٔ اخلم

شاه زرخان اسیؔر

PUKHTO.NET

چې د دېوال د شا نه غلې ګورم
پېغور کۀ پېژني پېغور نۀ اخلم

د محبت په لمبه سرې چې نۀ وی
په زړۀ د مړو سترګو ټکور نۀ اخلم

دا د اسیرؔ په نامه غوره ژبه
کۀ سپورې وائی جواب سپور نۀ اخلم

*****

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ځوانی مې لاړه بوډاتوب راغے
په بوډاتوب کښې د ځوانۍ غریب شوم

هُم مې خواهش هُم مې آرزو هغه ده
مستی مې لاړه د مستۍ غریب شوم

## اے زما ورو ګلونو (نظم)

هر طرف ته یُو تاوان کښې
چې په خپل مېنځ کښې جنګېږو
ورور خپل ورور وژنو لګیا یو
مونږ په دې هېڅ نۀ پوهېږو

چې شهید څوک دے غازي څوک؟
چې څوک وړ دے او څوک پړ دے
خو د دواړو خوا نـه اورو
دا شهید شو چې څوک مړ دے

دا تر کومه به په خپل ورور
دا تورونه لګوو مونږ
دا په خپل وطن جوړ شوے
ښکلے کور به ورانوو مونږ

نور څۀ نۀ وايم دا وايم
پټ چې ځان سره ګونېږم
چې يو سپين توغ لاس کښې واخلم
او د دوئ مبـنـځ کښې اودرېږم

نن زۀ کومې خوا ته لاړ شم
هلته ډزې دلته بم دے
په کوم چا وراوغورېـږم
غم نه ډک په خپله غم دے

کوکې کوکې چغارې دی
د ګولو په ورېدو کښې
دغه کوم ناسُور راخور دے
پُښتونخوا او پُښتنو کښې

شاه زرخان استير

دغه کور وو چې کنډر شو
دا پتې وو چې اوس شړ شو
خپله خاوره او خپله کور کښې
خلق وینو کښې ککړ شو

دا تهٔ ولې اے پښتونه
د اغیارو جال کښې ګېر شوې
نهٔ دې خپل کړهٔ نهٔ خپلبږی
د هر څهٔ نه ورته تېر شوې

اے زما ورو ګلونو
زهٔ اسیرّ له تاسُو جار شم
چې په تاسُو هلته ډز شی
زهٔ لندن کښې ناقرار شم

*****

شاه زرخان اسیرّ

○

دا سوی سوی اسوېلې به ولې خُلې له راتلې
چرته جانان کۀ بیا هغې زړې کوڅې له راتلې

هغه وعدې هغه لوظونه هغه لافې پرېږده
زمونږه کور ته خو به چرته یوې ګیلې له راتلې

زما په زړۀ کښې پټ غم شوے دے خو پټ پاتې دے
ګنې خوا خوږی به مې واړه لاس نیوې له راتلې

ښه ده چې تۀ مې ارمانونه په دار پټ ځنګوې
څۀ رقیبان به په رامنډه تماشې له راتلې

دا ځوانی مرګی ارمانونه پټوم لګیا یم
کۀ وے خبـر نو خامخا به جنازې له راتلې

هغه زیارت خوا کښې جونګړه خلقو ورانه کړله
ګنې اسیرؔ به ورله چرته یوې شپې له راتلې

*****

شاه زرخان اسیرؔ

○

راشه چې جرګه کښېنوو خلاصه به خبره شي
پړه وړه به معلومه کړو یاری به بیا د سره شي

وخت ډېر کړکېچن دے ځان له ځان له لاره مه نیسئ
یوې لارې ته راشئ چې سفر مو بې خطره شي

نۀ چې شنازګر نۀ لامبوزن وی په توکل نۀ شي
ځان به په سین یوسي څوك ورګډ کۀ بې ګودره شي

لاړ به شي د اوښکې غوندې شګو کښې به الوېږي
یو څاڅکے اوبۀ کۀ راجُدا له سمندره شي

سر ئې خلق پـېـــژني کتې ته ئې څوك ګوري
بې کتې هُم خر وی او کۀ کته پرې د بره شي

لږ د اسیرؔ اومنه دا ډانګ توپك دې اخوا کړه
پرېږده مُسلمانه خو خبره په خبره شي

*****

شاه زرخان اسیرؔ

PUKHTO.NET

ستړے ستړے چې سفر شي ستړے زړهٔ شي
چې زړهٔ ستړے شي خوشحال به سړے څهٔ شي

دغه نن کهٔ هر څنګ تېر شو خو بس تېر شو
چې به کله دا سبا زمونږه بنه شي

تور وېښته مو وو راوړي لاړل سپین شو
ښکاري نهٔ کهٔ مو ددې وطن واتهٔ شي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ما په زړهٔ دی دا ازغي تول قبول کړي
چې ګلونه د وطن مې پرې تازهٔ شي

څومره بنه يُ په خیالونو کښې کړم جوړه
څومره زر د امېدونو ناوې مړهٔ شي

زهٔ اسیرؔ هُم د هغو ستړګو نه ځار شم
چې د چا زمونږه لارو ته کاتهٔ شي

*****

شاه زرخان اسیرؔ

نن قربانـــومه پـه سبا زهٔ جوارګـــر یمـه
څنګه به سبا وی د سبا نه څهٔ خبر یمه

خپل جنتی کور پکښې ګُلونه رحمتونه وو
زهٔ په دوزخی لاره وتلے مُسافر یمه

زهٔ د مجبورۍ او بې وسۍ سیلۍ وهلے یم
ځان له لالمنیز یو مړاوے ګُل د مازیګر یمه

زهٔ د دُنیا ګټه د اُلفت په تاوان اخلمه
یمه ملامته چې قاتل د خپل ځیګر یمه

څهٔ بنائسته ځوانی پرې ورکوومه بوډاتوب اخلم
ځان ته کهٔ نر وایمه په کومه ژبه نر یمه

نهٔ د پېغلو شور شته پکښې نهٔ د بنګړو شړنګ اوری
زهٔ اسیرؔ کودرے د هغه خوشی ګودر یمه

*****

شاه زرخان اسیرؔ

چې دغه پټ مخ د حیا نه وړی
کۀ په دې چل به زړۀ زما نه وړی

زما له خُلې خو وینا سمه اوځی
خو دا غماز خبره ورانه وړی

ددغې وخت په تېرېدو خفه یم
چې دا ښائسته ځوانی زما نه وړی

دا میرات مړے ببلتونګے دې ورک شی
چې تا زما نه او ما تا نه وړی

د ښکُلی مخ لیدل ئې بیا نۀ کېږی
چې لوپټه سیلۍ د شا نه وړی

زۀ په دې ګرم نۀ یم رېبار به ګرم وی
چې دا زما خبره ګرانه وړی

اسیرؔ به ځی دا ځل به تش نۀ راځی
د لاس رومال به له جانانه وړی

*****

# په سفر تلل

څنګک غټ ګوټ د زهرو راکړی
چې په یو غړپ نهٔ تېرېږی
روڼ سحر په یاد کښې خړ شی
چې تر عُمره نهٔ هېرېږی

څهٔ د مور د مینې اوښکې
د زړهٔ درد پکښې راتوئ شی
څهٔ د پلار د شفقت غېږه
په سفر تلونکی پرې پوئ شی

د بچو په انګولا کښې
په ژوندی سری ماتم شی
په سفر وتل ئې څهٔ وی
یو ژړا شی او یو غم شی

شاه زرخان استیر

PUKHTOONET
پښتو زراب نېټ

نمر راخېژي وير شروع شي
لوئې واړۀ په ژړېدو شي
مُسافر په سفر درومي
د خپل کوره په وتو شي

د غريب احساس به څۀ وي
بې وسى ئې په سلګو شي
بس يو درد او څړيکه څړيکه
ددۀ غم پـه ښکارېدو شي

خپله وينه چې خوله کړي
بل اوورونه ددۀ کم شي
د سفر وتل ئې څـهٔ وي
يو ژړا شي او يو غم شي

شاه زرخان استير

ژوند ئ تول انکار شي
خپلې اوښکې ئ سپرغۍ شي
اسوېلې ئ څنګ دمه کړي
ستوماني چې ئ سلګۍ شي

لکه تور ماښام په ژوند کښې
غوټه غوټه ئ مـــرۍ شي
خپل وطن هله څوك پرېږدي
چې نهر شي بې ډوډۍ شي

ځئ په جمع دُعا اوکړئ
چې کارونه دې تول سم شي
د سفر وتل ئ څـــهٔ وي
يوه ژړا شي او يو غم شي

*****



PUKHTOONET پښتو ډاټ نېټ

چې پېژندنه پرې کووم نو چې پرې دومره لګی
چې مړ احساس ژوندے کووم نو به پرې څومره لګی

د پښتانه د ضِدنِیوکې نه امان غواړه
هومره چې دوئ ئې نهٔ مني هومره به هومره لګی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

تهٔ خو به وعدې د پخوانی، پشانې ماتې کړې
ما په انتظار به تر ماښامه پورې پاتې کړې

اوس خو د جرګو په راوستو هُم ما ته نهٔ ګورې
کله چې زردار شم بیا به ما ته ننواتې کړې

شاه زرخان استیر



# پېلوځې

"ليت، ليتکې، ليتکۍ، شونتي، بله شونتۍ، مشال، مشالونه رڼا، رڼاګانې" او دغسې نور ډېر نومونه او ترکيبونه دي چې د پښتون قام د امن پسندۍ ، ترقي پسندۍ او حقيقت پسندۍ د خوئ خصلت څرګندونه ترې کېږي.

پېلوځې (پے۔لَو۔ځې) د شاه زرخان اسيرؔ دوئيمه شعري ټولګه ده۔ ددې کتاب هره قطعه، غزل او نظم هغه پېلوځې دي چې د جهالت غريبۍ ، بې وسۍ، بې اِتفاقۍ ، بې حِسۍ ، بې ننګۍ، بې اعتبارۍ او غېر جانبدارۍ په دې تکه توره شپه کښې د رڼا او سبا زېرے ورکوي.

لکه څنګه چې پېلوځې د رڼا او ژوند علامت دے، دغسې د شاه زرخان اسيرؔ شاعري خپل قام ته د ژوند لارې چارې ښائي۔ کۀ دا لږ ډېر فني کمے ترې اوباسې نو بيا خو د شاه زرخان اسيرؔ خيالونه د اسمان سره خبرې کوي.

**اقبال شاکرِ بټ خېله**

۱۸ جنوري ۲۰۱۱ء